# بېنوا غونډې يو رنګ

شمائله سليمي

شعري ټولګه

نور خپرندويه ټولنه
**کابل**؛ ۱۴۰۴ لمريز

بسم الله الرحمن الرحیم


انتشارات نور

نور خپرندویه ټولنه

## د کتاب ځانګړنې

• **د کتاب نوم:** بېنوا غونډې یو رنګ

• **لیکواله:** شمائله سلیمي

• **کمپوز او ډیزاین:** انجنیر محمدافضل ذاکر

• **چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

• **چاپکال:** ۱۴۰۴ لمریز

• **چاپوار:** لومړی

• **خپرندوی:** نور خپرندویه ټولنه

• **اړیکه:** ۶۲۱۸۰۰ ۷۸۸ ۹۳+ / ۲۰۲ ۳۱٤ ۷۷۷ ۹۳+

• **ایمیل:** noor.books۲۰۱٤@gmail.com

• **پته:** کوټه سنګي، مبارک سنټر ته مخامخ، مینه یار مارکېټ



**د دې کتاب چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي!**

# څو خبرې

زه څوک یم؟ د کوم ځای یم او زما بیوګرافي ولې لا تر اوسه نه ده نشر شوې؟

دغو پوښتنو ته له ځواب ورکولو دمخه به لومړی د عذر پـه ډول ووایـم، چـې په خپل لومړي کتاب «داغ په نسترن» کې مې هڅه کړې وه چې د خپل ژونـد په اړه لنډې خبرې وکړم؛ خو له بده مرغـه، د مهـالي تذبـذب لـه املـه دا هڅـه نیمګړې پاتې شوه او لوستونکو ته کتاب په داسـې حـال کـې ورسـېده، چـې لا یې هم لیکواله نه پېژندله.

خپله پېژندنه به له خپل نوم نه راپیل کړم. زمـا اصـلي نـوم درخـانۍ سـلیمي دی، خو ادبي نوم مې شمائله سلیمي دی. دا سلیمي د یوه بل سـلیمي لـور ده چې نوم یې محمد ارسلان سلیمي و. ارسـلان سـلیمي د خپـل وخـت مشـهوره فرهنګي او اجتماعي څېره وه، چې نوم، شهرت او فرهنګي او ولسي هلې ځلـې یې په فرهنګي کړیو کې روښانه او ژوندۍ دي او د ژوند او شخصیت په اړه یې په ویکيپیډیا کې کتلی او لوستلی شي.

د خپل ځان په اړه به د خبرو په دوام کې ووایم، چې زه د وردګـو ولایـت پـه جغتو ولسوالي پورې جغرافیوي اړیکه لرم او په قوم مایار یادېږو. خـو ژونـد مـې په خپل پلرني ټاټوبي کې نه دی کړی، بلکې ژوند او استوګنه مو پـه کابـل وه. په همدې کابل کې له رابعه بلخي عالي لیسې نه فارغه شوم او بیا مې د کابـل ادبیاتو پوهنځي له دوهم کال نه د هندوستان په لور مهاجرت وکړ.

څو کلونه مې هلته په نوې ډېلي کې تېر کړل او بیا له کـورنۍ سره د امریکـا متحده ایالتونو ته مهاجر شوو او تر نن ورځې د امریکا په نیوجرسي ایالـت کـې لـه خپلـې کـورنۍ سره ژونـد کـوم او پـه طبـي برخـه کـې د OBGYN پـه حیـث مشغوله یم.

فکر کوم، د ځان په اړه به مو نور نه ستومانه کوم او د يوه بل وضاحت پاته به راپرانيزم، چې ډېر ضروري دی او هغه دا چې په تېر کتاب کې مې د ډېرو ليکوالانو، نقادانو او استادانو تبصرې او ارزونې راخيستې وې، چې خوشبختانه له ډېرې حوصله افزايۍ نه ډکې ليکنې او خورا مثبتې ارزونې وې، خو دا ځل مې په کتاب باندې د چا عرض و تبصره/ تقريظ و سريزه ولې نه دي راخيستي؟ دا د وخت کمی هم کېدای شي او د فطرت او طبيعت د کوم پړاو يو علت هم.

په پای کې به د «بېنوا غونډې يو رنګ» په اړه هم څو کرښې وکاږم چې زما دوهم کتاب دی. دا معلومه خبره ده چې پوره فقط کلام الله دی او له انسان سره خطاوې هم ملګرې دي او مغالطې/ Fallacies هم، نو که څه نيمګړتياوې لري معذرت دې وي راته او که مو سره له نيمګړتياوو خوښ شو، نو غنيمت دې وي راته. دا تاسو او دا مو هم «بېنوا غونډې يو رنګ»؛ زما له خوا دې ټول پښتو ادب او ټولو پښتنو ته مبارک وي!

رب دې وکړي چې دا کتاب په پښتو ادب کې يوه ښکلې زياتونه شي.

په ډېر درناښت

شمائله سليمي

نيوجرسي، ۱۴۰۴ل، د وري مياشت ۲۶مه

یــاره ســتا د مینـــې اور شـــولو راپـــورې
زړه سینه کې مې کباب شو کـه یـې گـورې

کمومـــه پـــرې خفگـــان د چـــا د مینـــې
زیـــاتوي پکـــې خـــبرې نـــورې نـــورې

د احســاس اشــتراک ځنــگ درسره وکــړم
رانـــه گرځـــې لـــرې لـــرې دورې دورې

د سر سترگې خو دې ډېرې کړې بې خونده
اوس بـه مـا لـره پـه کومـو سـترگو گـورې

د وفـــا طمـــه بـــه څـــه درځینـــې وکـــړم
څـو دې وس رسي اشـنا هـومره مـې زورې

ترهـــوي مـــې شـــمائلې ـــــ منزلونـــه
راپســې ډېـرې سـایې دي تـورې تـورې

سـپېره سـيلۍ دې د آهونـو لګـي
پلـو دې پـاس پـه کنـډوونو لګـي

څوکيـداري د خپـل ضـمير کومـه
مـا سره کلـه د وختونـو لګـي

پـه مصـلی دې د فـراق ناسـته يـم
نـرى شـمال د اميـدونو لګـي

چې په کوم ځای وشي ترديد د مينې
هلتـه بـازار د مشـالونو لګـي

کـه يـې د عـرش تـر منـارو رسـوم
سر مـې داسـتا پـه قـدمونو لګـي

عشق د ماضي مې شو رهبر د لارې
پـه مـا رڼـا د چراغونـو لګـي

نـه مـې اشـنا کـړو پـه دعـا د سـهار
نـه پـرې ښـېرې د ماښـامونو لګـي

نـه پـه اسرو د بـل او بـل پايمـه
نـه مـې وعـدې د قسـمونو لګـي

زړه ته مې عشق شو شمائلې داسې
لکـه چـې مـالګې پـه زخمونـو لګـي

ګـــرځم ګـــرځم اواره
ستا د عشق په سـهاره

راپرېـوتې مـې د ژونـد
لـــه فلکـــه سِـــتاره

هر قدم د خپل ژوندون
لنډومـــه ـــــ خِســـاره

اشنايي مـو شـوه صنم
د حاســـد پـــه اِجـــاره

پټـه مينـــه مـــې د زړه
نغـــاره شـــوه نغـــاره

ژونده نه سمېږې هـيڅ
راته شـنه دې كـړه زاره

نه له زړه مې ؤځـې تـه
نه له سـتوني مـې نـاره

مينـــه نكيــږي پـــه ډار
په ښكاره وايـه ښـكاره

شـمائلې يـو مـې لاس
بـل مـې زړه پـاره پـاره

زه بـــې درمانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا
بـــې لامکانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

زه په دې اوس پوی شومه، ما په دې اوس وژړل
چـــې زه افغانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

په زړه مې ډېر ډېر څه دي، د زمانې په هکله
خـــو بـــې زبانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

نه لاس و پښې وهی شم او نه نارې وهی شم
داســـې زولانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

نـه لـه قسـمته يمـه، نـه لـه دنيـا نـه يمـه
خفـــه لـــه ځانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

څوک مې په کاڼو ولي، څوک مې له کلي شړي
مـــاهِ تابانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

اوس لـه خپـل ځانـه سره، د شـمائلې پشـان
مشـــت و ګرېوانـــه يمـــه، اې لامکانـــه زمـــا

شوم عبرت د زمانې، دا دې څه وکړل په ما
زما مينې مستانې، دا دې څه وکړل په ما

ځورولم دې مدام، ننګولم دې مدام
راکولې دې طعنې، دا دې څه وکړل په ما

چې په غم دې د صنم، خبرولمه هر دم
حال مې وګوره شانې، دا دې څه وکړل په ما

د لېمو مې پروانې، سپينې تورې کړې فراق
شمع رويې فرزانې، دا دې څه وکړل په ما

اوس مې زړه کې د جنون، ستا د مينې په ترړون
نه الفاظ شته نه معنې، دا دې څه وکړل په ما

په سبا سبا دې کرم، قافله د شومه دم
بې خلوصه بهانې، دا دې څه وکړل په ما

شمائلې خپل ژوندون، محسوسيږي راته اوس
لکه خوب د جېلخانې، دا دې څه وکړل په ما

را پــه سر څــه نــا اشــنا حوليــه ســازي ده
لــه خپــل ځــان سره راپېښــه غــمازي ده

ستا د مخ دې وي قاصد پـه دې خبر چې
د عشق برخه مې  په خولـه کې د تـازي ده

چې ښېراز مې کړي ګرېوان په تورو اوښکو
لــــه عالمـــه خـــو همدغـــه ښـــېرازي ده

يـــم د خپلـــې فقـــيرئ شـــکر ګـــذاره
چــې لــه مــا سره زمــا پــه حــال راضي ده

دا پــه حــال کــې يــم بــې غمــه زړه ولاړه
کـــه ولاړه آئينـــې تـــه مـــې مـــاضي ده

زمـــانې مـــې بېلـــوي لـــه هغـــه يـــاره
چې پرې کړې مې د سر و مال بـازي ده

ايجـــــازي يـــــې ختمومــــه شــــمائلې
څـو کـه هـر لفـظ د شـعر مـې اعجـازي ده

ستا د کوڅې ګرد مې په تصوير دی پروت
غـاړه کـې د مينـې مـې زنځـير دی پـروت

نـــه دې خانقـــا رقـــصِ بســـمل لـــري
نـه پکـې سامان د بـم او زيـر دی پـروت

وختـــه لـــه هـــر رنـــګ سره دې اوړمـــه
مړی مې په کور کې د ضمير دی پـروت

يـا خـو دې جـوړه ورونـه مـړه شـوي دي
يا خو په پالنګ دې خونه مـير دی پـروت

ګرځــي عنکبــوت پــرې د لقــمان د کــور
لاش د چـــا د زلفـــو د اســـير دی پـــروت

دې جهـــان نـــه مکـــړه د وفـــا تمـــه
دلتـــه د ادم د ذات خمـــير دی پـــروت

بـــاب مـــې شـــمائلې د تقـــدير ګـــورم
مـخ پکــې زمــا لکــير لکــير دی پـــروت

مــا د زمــانې لــه احســاناتو سره جنــګ کــړی
هر وخت مې له خپلو خواهشاتو سره جنګ کړی

يــا مــې د فقــير پــه ګــدۍ کــړی د معــراج ســفر
يا مې د ژوندون سختو حالاتو سره جنګ کـړی

وي چې په تاوان د نور عـالم پـه سـود زمـا مګـر
تل مـې لـه داهسـې امکانـاتو سره جنګ کـړی

زه تــرې د مابعــد طبيعيــات توقــوع هــم ســاتم
خيال مې که اګـر لـه واقعـاتو سره جنګ کـړی

زړه مې کـه وهـلی سـتا د حسـن پـه مـاتم نـدی
دا مــې د غــزل لــه روايــاتو سره جنــګ کــړی

زه چــې لــه وجــوده د جــوهر پــه لټــون راغلمــه
ډېر مې لـه دې خپلـو حرکـاتو سره جنګ کـړی

وو به چـې خـواره زمـا سـرې ډوډۍ او پيـازو نـه
مــا لــه هغــو قنــدو او نبــاتو سره جنــګ کــړی

ما ته يې قيمـت راکـوو ماتـه يـې مقـام د عشـق
څنګـه بـه وو مـا لـه الزامـاتو سره جنـګ کـړی

يــا خــو شــمائلې لــه دنيــا سره پــه جنــګ ومــه
يا خو به مې وي له مصنوعاتو سره جنګ کـړی

کور مې شو ړنګ د هغه ذات چې اوسېدمه پکې
تول کندرات شو کندرات چې اوسېدمه پکې

اوس د يو بل وجود جوهر سره راووتمه
تېر شو په ما هغه حالات چې اوسېدمه پکې

تائيدوم هغه ګناه چې مې جذبه وه پخوا
ردوم هغه روايات چې اوسېدمه پکې

د واقعاتو په ګدئ د ژوند خيرات غوارمه
هېر مې شو هغه خيالات چې اوسېدمه پکې

اوس دې کوځې نه په طرف يم د مېرې روانه
اوس پکې نشته ملاقات چې اوسېدمه پکې

د تغافل لوګو وهلی يو خاورين مکان ئو
ماته بهتر تر سومَنات چې اوسېدمه پکې

زړه دې تک تور و شمائلې له تمامې دنيا
تول خرابات و خرابات چې اوسېدمه پکې

○

دریغه که شک دې وي چې نه یې منم
درته مې ایښی صنم لاس په قسم

هسې يو بل لره دوکې ورکوو
نه ته په ما نه زه په تا پسې مرم

زما د زړه د حسرتونو بلبل
ډېر ځورولی ستا د مینې موسم

که مې د مړینې زېری هم پرې وکړئ
راپسې نه اخلي له خياله قدم

خدای پامانی لره مې هم را نغی
زه چې د چا له غمه کډې ترم

ستا د فراق غم به يې ورژوي
که سمندر مې شي په سترګو کې ضم

د شمائلې شناخت نه دی ممکن
داسې يې څکلي دي پیالې د شِکم

راغـــی نوبهـــار، د نوبهـــار بادونـــه الـــوزي
بېـل دی رانــه يــار د نوبهــار بادونــه الــوزي

زه لکـه خـزان وهلـې پاڼـه سـتا پـه مينـه کـې
راغلـم سـتا پـه ښـار د نوبهـار بادونـه الـوزي

کور کې خو مې ځکه د خزان بادونه لګـي چـې
کــور کـــې د بــادار د نوبهــار بادونــه الــوزي

يا زما پـه حـال خبرداری دی سـتا د تلو راتلـو
يـــا پـــه لالـــه زار د نوبهـــار بادونـــه الـــوزي

دا مې دی ګمان چې ګنې رابشـې او لاړ بشـې
ډېــر مـــې دی تلـــوار د نوبهــار بادونــه الــوزي

مينې مې نظر ته ورپيښ کړی حساسيت د ګل
زړه مـــې دی بـــيمار د نوبهـــار بادونـــه الـــوزي

چا وې شمائلې چې  شپاله کې د ازغو وې ګير
سـتا خـو پـه رخسـار د نوبهـار بادونـه الـوزي

غافـل يـې لـه آلـه درسـت عـالم دی
غم دادی چې له مـاسره يـې غـم دی

پـوهېږم چـې لـه حالـه مـې خبرېـږي
پوهېږي چې پـه مـا بانـدې مـاتم دی

وربېـــږي پـــه بـــې پتـــه ګلابونـــو
شـبنم دی کـه زمـا د سـترګو نـم دی

په زړه بانـدې مـې وار د مـاتم نـه وي
دا دم يې غنيمت دی چې بـې دم دی

وجـــود مـــې بيـــان د تنهـــايۍ شـــو
ژونـدون پکـې لـه مانـه تـرى تـم دی

اوس دا خـو چاتـه نـه شـمه ويـلی
چـې داسـې بـې پـروا زمـا صـنم دی

شداد مې شو زړګی ستا په حرص کې
درنـــګ پـــاتې رانـــه دا بـــاغِ اِرم دی

دا نهْ چـې لاس او پښـې نشـم وهـلی
د عشق راباندې نور هم ډېر کـرم دی

د مينـــې سرحـــد نشـــته شـــمائلې
نه څوک پکې له چانه زيات و کم دی

پـه مـا لـه دې نـه پـس سـلام دې د چـا نـه وايي څوک
ماتــه دې نــوره لاروی د رڼــا نــه وايــي څــوک

عشقه وګړي د رشـتو مـې راټـول شـوي پـه مـرګ
ټول مې په مړي پورې خاندي دعا نه وايي څـوک

کور کې ترلې سره دې حل کړي تربګني پـه مينـه
ماتـه ټپـې دې د مجنـون او لـيلا نـه وايـي څـوک

پـه شريعـت کـې د مـړې ګېـډې فـارسي غـړوي
ځکــه ددې دور مــلا تــه مــلا نــه وايــي څــوک

لــــه هــــر فقدانــــه يــــې اواز د بېليــــدلو راځــــي
ولې دې پريښوم دا دې ماته سبا نـه وايـي څـوک

خــاورې مــې واړوه پــه هــر ناکــام او هــر محبــت
خـو دومـره ډېـرې نـاروا تـه رواه نـه وايـي څـوک

زه د حسـرت پنجـره کـې ځـانګې ځـانګې ورژيـدم
مـا تـه دې نـوره شـمائلې حـواه نـه وايـي څـوک

وجود مې دی آنګن کې، زه وايم څه او څه
نينا ستا په وطن کې، زه وايم څه او څه

چې تاؤ به له نبي و، نزول به پرې جاري ؤ
په هغه پيراهن کې، زه وايم څه او څه

شودې بې ويني زَوې، شراب يې د زړه وينې
د ژوند په دې عدن کې، زه وايم څه او څه

اسمان سره خلاف يم، جهان سره خلاف يم
دې يو معذور بدن کې، زه وايم څه او څه

په کاڼو باندې ولم، د مينې مظهرونه
د غرهْ په دې لمن کې، زه وايم څه او څه

تبی کړه رانه پورته، واعظه رياکاره
چې ستا د لاس کفن کې، زه وايم څه او څه

مرمر وم په حرم کې، مينا وم شمائلې
غبار شوم په چِلمن کې، زه وايم څه او څه

یمـه سـتا د بیـا راتلـو پـه تلوسـه کـې
خسته حاله دې یم ناسته په کوڅه کې

زړه مې ويني غورځوي دا څـو ماښامه
لګېـــدلی د نظـــر پـــه حادثـــه کـــې

زه نه دا وایـم چـې مکـړه او نـه دا خـو
د پردې خبرې ښـې وي پـه پـرده کـې

چـې فـلانی پکـې ولي د زمـانې شـو
زمـا زوی شـو لېـونی هغـې چِلـه کـې

د خیال ګـوتې مـې ورغـلي دي ریبـاره
د اشـنا د بـې حِسـۍ پـه دروازه کـې

د خپل حق د ورکېدلو غم ورپـیښ وي
چې یریږي څوک د ورونو په کوټه کـې

نـورو خلکـو سره ناسـته راتـه ښـکاري
لـه لېوانـو سره ناسـته پـه مَـیره کـې

پوشـیده راپسـې کـاږئ څـوک غوږونـه
افسرده شـوم د یـو چـا پـه بېلتانـه کـې

زه اوس هغـه پـاتې نـه یـم شـمائلې
زه اوس ځان ته کتـی نشـم ائینـه کـې

د سـوي ګـل پشـانې پـانې پـانې ورژېـدم
زمـا د زلفـو شـانې پـانې پـانې ورژېـدم

راټولومـه خپـل پـردي تکيـه کومـه پـرې ځـان
د ځـان ځـانۍ زمـانې پـانې پـانې ورژېـدم

وزر مې هم د مجاز نـه وو چې تـر عرشـه تلمـه
مرشـده، خـداجانې پـانې پـانې ورژېـدم

پـه هـر آئـين کـې يـم حيرانـه پـه اويـا نفسـه
زمـا ځـوانۍ مسـتانې پـانې پـانې ورژېـدم

خونې مې ورانې شوې د هرې زمانې په غېږ کې
خـونې دې مـه شـه ورانـې پـانې پـانې ورژېـدم

د پرېشـتو چـارې راوکـړې د ريشـتو غمونـو
د عشـق لمانځـه کـې يعنـې پـانې پـانې ورژېـدم

له دې نه ګرانـې مـې زغمـلې شـمائلې وې خـو
پـه دې لهجـه دې ګرانـې پـانې پـانې ورژېـدم

تصور مې که هر څو ؤ سنګين مات شو
چې زما د امېدونو ائين مات شو

بيا مې کاڼي د تهمت مسخره نکړل
چې مې سر پرې د ګمان او يقين مات شو

ستا د ډېرو بې حِسيو وم اسيره
دا له غمه چې مې زړه د پروين مات شو

له استينه دې راوتی ښامار ګرځي
له ښاماره دې راوتی استين مات شو

ژونده مات دې کړل د عشق روايتونه
د فرهاد په ځای دې سر د شيرين مات شو

وي نبات د حريفانو لکه زهر
ځکه زړه مې د يو چا په تلقين مات شو

خيال مې ستا په خيالاتو شمائلې
مطمئين ؤ که هر څو مطمئين مات شو

که غـورځېږې راپـاڅېږه، زنـده ګــي ده را پــه غــاړه
د آســـمان د بـــادارانو، غلامـــي ده را پـــه غـــاړه

سل مخونـه د ظاهر مـې، پـه يـو مخ د بـاطن بـار دي
د خانـــانو ملکـــانو ، چـــاپلوسي ده را پـــه غـــاړه

يمه سر تـه د ځـان ناسته، د فـراق د بهمـن غېږ کـې
مرثيـــه د خپلـــې مينـــې، د ســـپرلي ده را پـــه غـــاړه

بيـا د ستوري د اقبـال دې، دعـا نـه راتـه کـوي څـوک
اوس مې خيال شو چې دا کومه، رسوايي ده را په غـاړه

پـه دستور بـه دې بهلولـه، د ژونـدون حسـاب ورنکـړم
نـاداني مـې ده همـدا چـې، دانـايي ده را پـه غـاړه

د جوهر په دود مې ژوند شو، ناشايسته او شايسته دواړه
نـيما يـې بـدن مـې غـوځ خـو، نمـايي ده را پـه غـاړه

ښـې مـې تـل د زړګـي وينـه، شـمائلې بـې تسـکينه
هرجـايي شـوه د يـار مينـه، هـر جـايي ده را پـه غـاړه

◯

لکه ده چې د دنیا په صبح شام کې مایوسي
هسې رنګ مې ده خوره په هر اندام کې مایوسي

د اغاز او د انجام په هکله پوښتې که له ما
په اغاز کې بې حِسي وه په انجام کې مایوسي

ژوند زما ؤ که د خضر بې مزې ؤ بې مزې
وه پرته په دې تمام او ناتمام کې مایوسي

خدایه کوم صورت اختیار کړم د زمان تر اذیت
شوه مې ګډه په شوګیرهم په آرام کې مایوسي

څه حساب خو دې ورکړی په غربت زما د حال
داسې نه دې وه ریباره په پیغام کې مایوسي

چې سپوږمۍ به یې سلام لره راتلله په سیالۍ
اوس دې وینمه په هغه در او بام کې مایوسي

خاموشي ده را په غاړه شمائلې د نصیب
ما به خوري د خاموشۍ په دې ناکام کې مایوسي

پــاس پــه کنــډو ولاړې ونــې
شوې مې د ژوند لارې خنډنې

پــه مـخ مــې وينــې رابهېــرې
ماتې مې سر کې شولې غنــې

واړه بـــــــــې زوره زورور دي
د چــا و چــا بــه نيســو زنــې

لاړو اثـــــر د نصــــيحت دې
شــوې دې خــبرې پيغــورجنې

دي مې په روح باندې ولاړې
ستا د بې ستنو اسمان ستنې

څوک به دې ووژني په لار کې
پـــــه لاروي بانـــــدې مَينـــــې

سـتا د مـرض دارو بـه نـه وي
لـــه خپـــل نصـــيبه ګيلمنـــې

د ښادۍ هيلې دې کړه مـاتې
زمـا پــه غـم بانـدې غمجنــې

پـــه ورکـــو ورکـــو لارو لاړې
د شـــــمائلې هـــــم وطنـــــې

پــه تصــوير کــې د ظــاهر يــم مســتانه
نــور مــې کــور دی د بــاطن پــه ويرانــه

ستا اوږدې اوږدې وعدې دي بل څه نـه
لنـــډوي مـــې چـــې د عمـــر زمانـــه

د نفرت سنګ به دې مات شي لکه لاس
نـــړوي مـــې چـــې د مينـــې ميخانـــه

دې کــې څــه زمــا قصــور دی څــه خطــا
وخــت چــې ســتا هــره ادا کــړه جانانــه

د وســواس لارې مــې مکــړې د لبــاس
ډېـــر وګـــړي راتـــه ګـــوري بهانـــه

سوزيدل خو وي په عشق کې سهل کـار
وي پـــروا کلـــه پـــه دې د پروانـــه

پـــه طـــرف د شـــمائلې کـــړم ګـــذر
روح د زړه مــې دی بنــدي پــه جېلخانــه

○

زه هلـه پـوه شـوم چـې نـه پـوهېږم
کله چې پوه شوم چې زه پوهېږم

مـا کلــه کــړې د وخــت يــاري ده
زه نـــو نګـــاره پـــه څـــه پـــوهېږم

خبرېــدل غــواړي زمــا لــه حالــه
وهــي مــې ګــوتې پــه زړه پــوهېږم

عمــر مــې داســې رانــه روان دی
لکـــــه روانـــــې اوبـــــه پـــــوهېږم

زړګــی مــې تــور کــړ ډېــرو غمونــو
سر کې مې سپين شو ويښته پوهېږم

ډېـرې نعـرې مـې پـه وطـن وکـړې
راويښ مــې نکــړل ويــده پــوهېږم

لاره دې څـــــــارم، زه شــــــــمائله
ســتا نــه راتلــه وي، راتلــه پــوهېږم

پــر سر مــې دې انبــار، غمونــه بــې شــمار
هيڅ پوه نکړم په ژوند، دې خپل زړګي بيمار

نه شته دی نـه راځـي، چـې څـارم د چـا لار
هـر نـن مـې شـو مـاضي، ازار يـې کـړم ازار

نــه تــه يــې راسره نــه ســيوری د چنــار
ډيــوې دې بلــوم، د مينـــې پـــه مـــزار

همه دې يو تر بـل، سـل چاري او بـې چـار
مخلوق کې د يو بـل، اربـاب شـته نـه بـادار

تعجـب مـه وړه زمـا، پـه شـور او پـه ناتـار
په ما کـې دا معصـوم، فطـرت دی ګناهګـار

زمــــا د زړه منظــــر، منظــــر د لالــــه زار
هر ګـل يـې د ارمـان، داغـدار ګڼـه داغـدار

لــه يــاره شــوه تحفــه، اوس شــمائلې دا
د زهــرو يــوه پيالــه پــه لاس کــې د رييــار

ســـــتا اواز مــــرهم مګـــــر، دا هــــم اذيــــت ګـــــڼم
ګــــل يـــې خـــو صـــنم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

تـــا سره عـــلاج زمـــا، شـــته دی هـــم يقـــين مـــې دی
تـــه يـــې غنچـــه فـــم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

هـــر كـــه ســـتا د مينـــې دی، ســـتا د خپلېـــدلو دی
خـــوږ مـــې دی دا غـــم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

را دې كـــړو زمـــا دې كـــړو، څـــه يـــو عجيبـــه مـــزاج
دادی ســــتا كــــرم مګــــر، دا هــــم اذيــــت ګــــڼم

ســـتا منـــزل تـــه پـــاتې دی، ماتـــه لـــه مـــودو مـــودو
يـــاره يـــو قـــدم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

بد به مې حالات كړي څوک، نه به مې څه زيات كړي څوک
نـــه بـــه مـــې څـــه كـــم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

لاس دې شـــمائلې نـــور، مـــه راغځـــوه د عشـــق
دادی جـــامِ جـــم مګـــر، دا هـــم اذيـــت ګـــڼم

○

ګوندې که بيا مې هغه ستا د عشق حباب ونيوهْ
په دې غرض مې کور په غاړه د درياب ونيوهْ

له يوه نه ـــ تکرارېدونکي ـــ ژونده ووتمه
زړه مې يو نه تمامېدونکي اضطراب ونيوهْ

له انسانانو مو جوړ کړي دي خدايان د ځمکو
موږ مشرکانو پسې ـــ چا د دې حساب ونيوهْ

نن مې اوبه کړ خپل ګرېوان د پښېمانۍ په اوښکو
نن مې د سترګو يو ازغي راته ـــ ګلاب ونيوهْ

د ژوند اسمان ته د خودۍ په کمند نه ختمه
ځکه مې کور د احتياج ـــ خانه خراب ونيوهْ

دا د پښتو وطن مې ـــ کله کله وژړوي
چې څه بې ننګه ـــ او بې پته انقلاب ونيوهْ

په داسې چا مې شمايلې، شيدايي شو زړګی
چې تر کوڅې پورې ورتلو ته مې ارباب ونيوهْ

احساسات دې زما مړه کړل روغ صورت مې شو معذور
ګيله منې سترګې ګرځم په بازار د رتنبور

ځان دې دېو د زمانې کړ په ټيکري زما د سر
زه د لوبو دې ګوډۍ کړم په خبرو د دستور

زړه مې داسې درنه تور شو لکه تور حجر اسود
په تندي به يې سپين نکړې د خپل حسن د حضور

محبت به دې درياب ۇ چې منظور به مې ګڼه
شو چې عشرــ له عشيره دا منظور دی نا منظور

حقيقت يو زنکدن شي چې ثابت دې شي په ځان
د پردو حقيقتونو بېل لذت وي بېل سرور

بد حالت يو کيفيت ۇ چې کوو به مې پرې وياړ
اوس خو ځکه ځينې ډار کړم چې ضرور مې شو ضرور

ده پالنه را په غاړه شمائلې ـــــ د ريشتو
که پرته د دار رسۍ ده په مرۍ کې د منصور

○

ګل شو اور سره همرنګ په رنګ روغن کې
يار له ما سره هم رنګ نـه شـو دامـن کـې

د ځنګـــل د ترابـــانو داســـتان لـــولي
شـيخ د سـپينو سـپينو حـورو پـه وطـن کـې

قنـد نبـات مـې د اشـنا تلـخ کلامـي شـوه
د وصـــال بادونـــه الـــوزي بهمـــن کـــې

دی د زرو خـــو د زړه پـــه وينـــو ســـور دی
څـه کـه ګرځمـه پـه داسـې پـيراهن کـې

لاس دې رپـي پـه سـخا پـه عياشـۍ هـم
دا دې حـال دی پـه دادن پـه ګـرفتن کـې

ټـول د عشـق پـه ښائسـتونو پسـې لاړل
څـه چـې پـاتې ؤ زمـا پـه تـن او مـن کـې

يـــو ناکـــام د شـــمائلې دې يـــاد نکـــړو
ګونـدې رادې شـي پـه ژبـه زنکـدن کـې

پـه تصـور کـې چـې راځـي، هغـه ريښـتيا نـه راځـي
او پـه نظر کې چـې راځـي، زړه پـرې زمـا نـه راځـي

زموږ جونګړه کې تورتم دی، دا ته چېرتـه ورک يـې
کړکـۍ دې بنـدې لـه محلـه، دې رڼـا نـه راځــي

اوس د شــتمنو بـــې وســۍ تــه فکــر وړې يمــه
اوس مې په خپلې غريبۍ، پـورې خنـدا نـه راځـي

چې اېښې تا ورباندې لاس دی ګل په لاس جانانه
اوس مې د کور په دېـوال سيورى د بـلا نـه راځـي

ځـان مـې پـه داؤ کـړ لـه همـه وو خواهشـاتو سره
لـه دې نـه پورتـه بـل هـنر خـو د وفـا نـه راځــي

تــه راتــه وايــې يــادوه مــې پــه دعــا کــې کلــه
زما خـو ځـان هـم پـه خوله باندې دعـا نـه راځـي

دردونــــــه راوړي، شـــــمائلې يادګارونـــــه راوړي
تنهــايي هــم راتــه اوس هغســې تنهــا نــه راځــي

ستا په تصور کې يـم ــــ شـپه او سـبا نـه ويـنم
تل په دې محشر کې يم، شـپه او سبا نـه ويـنم

وه د صنوبر او ګل ـــــــ شـپه او سـبا کلـه تـل
ګل د صنوبر کې يم ـــــ شپه او سبا نـه ويـنم

شپه او ورځ وای وای کوم، زه د خپل وطن صياد
ويشتې په ځيګر کې يم ـ شـپه او سـبا نـه ويـنم

داسې يو حالت دی چې، خدای دې ترينه وساته
داسې يو منظر کـې يـم ــ شـپه او سـبا نـه ويـنم

لعـل ومـه جـوهر ومـه، ټـول حـواس مـې وبايلـل
کور د دروېزګر کـې يـم ــ شـپه او سـبا نـه ويـنم

تا چې پرې ګرېوان د چا ــ هم اوبـه کـوی نشـو
هغه سمندر کې يم ـــــ شـپه او سـبا نـه ويـنم

ته خو مې پرسـان د حـال ـــ اخلـه شـمائلې لـړ
زه خو په سقر کې يـم ــــ شـپه او سـبا نـه ويـنم

پاڅــه زړه زمــا مجنونــه بــلا وشــوه
د نفــرت پــه نی نعــره د ســبا وشــوه

چې ابلیس ورلره هم ګـوري پـه سپکه
لــه آدمــه داســې کومــه ګنــاه وشــوه

تــر ابــده بــه ونــه خانــدم شــېرینه
چې د نن په حال مې کومه خندا وشوه

مصـله دې غــوړولې پــه دامــن کــې
پــه ګرېــوان د آئینــې دې رڼــا وشــوه

زه په خپلـې عـاجزۍ شـوم هلـه پوهـه
چــې مــې تــا سره يــاري کبريــا وشــوه

يــو نَفَــس د اذيــت دې ســل حســينه
چــې پــه تــا کومــه کانــه زکريــا وشــوه

شــمائله يــې کــړه پــاتې لــه تشــهیره
لــه تقــدیره پــه خطــا کــې وفــا وشــوه

◯

زمـا زړه چـې لکـه تـور ځړوکـی تـور شـو
هلــه ســتا د ترهېــدلې مينــې شــور شــو

فضـــليت دې د انګـــورو ورتـــه وښـــود
د عزّير غونـډې نبـي دې شراب خـور شـو

مـوسی مـه لېـږه د خضرـ اسـتانې تـه
خـواه کـه سـتا دا نبـوت ورتـه پېغـور شـو

د فنـا پـه مـرګ مـې مـه وهـه ځانګونـه
څـه بـاور کـه لـه فنـا دې نـور او نـور شـو

د غاښونو مـې بریښـنا شـوه پـه لحـد کـې
د پـردې وطـن کفـن رابانـدې خـور شـو

خپـل محـل او عـمارت لـره يـې شـا کـړه
چې يې مخ زما د وران مکان پـه لـور شـو

د چـا راز مــې افشـا نکـړو ـــــ شــمائلې
دا هـــنر د مخلصــــی راپـــورې اور شــــو

○

دا دستور دې کړه بدل عشـقه سرزوره
چې شاهان درپسې نه وځي لـه کـوره

چــې زمـا پــه بېلتانـه بـه يـې ژړا کـړه
پـه خنـدا يـې راوړمـه تـر ګـوره

چــې آدم مــې ســفارش کــولی نشيـ
غرض دا چـې دې يرېـږي لـه پېغـوره

زکريـا لکــه د قــام لــه شــوره ځغــلي
داسې زه يمه پـه ترهـه سـتا لـه شـوره

په درشل چې د چا ورشي ملامت شي
د يوسـف لمنـه سـپينه وي کـه تـوره

دا عمل زما ګـواه سـتا د خلـوص دی
خپل انځور چې ببلوم سـتا لـه انځـوره

وصال غم د هجران نه وړي شـمائلې
د اور سـويو تـه عـلاج بويـه لـه اوره

○

پــه ويــر بــوج د بېوســۍ کمېــږي نــه
يــو نــيم غــم پــه تســلۍ کمېــږي نــه

کــه تــر مخــه د ريبــار کــه د رقيــب وي
کيفيــت د بـــې روخـــۍ کمېـــږي نـــه

د سرونــو يــې بــلا کمــې راپــېښ کــړ
خــو جــذبې د سرکشــۍ کمېــږي نــه

ته يې ناست د منتهى تر سيوري لاندې
چــې معيــار مــې د ســيالۍ کمېږي نـه

پښېمان يې په ژونـدون کـړ هـر وګـړی
پــه فطـرت کـې دغـه لـۍ کمېږي نـه

د بې ځايـه مينـې رنـګ د مايوســۍ وي
مـــايوسي پـــه مايوســـۍ کمېـــږي نـــه

شمائلې کړي دې ياد چې درغلي کـړي
آذيـــت د درغلـــۍ ـــــــ کمېـــږي نـــه

○

ځي مې خولې نه تورې وينې په تصوير کې
که مې وينې د شېرينې په تصوير کې

د جنون دي زما ځيرې ګرېوانونه
ستا د حسن جامې سپينې په تصوير کې

د نفرت تصوير کې هم مشه ځوک داسې
لکه زه شومه د مينې په تصوير کې

بلاګانې د پښتون په کاله ګرځي
ښکارې تورې لونګينې په تصوير کې

دا رنګينې زمانې دي دروغجنې
دا رنګينې دي رنګينې په تصوير کې

په قدم يې چې لعلونه زرغونېږي
ښکارې خود خو به خاورينې په تصوير کې

عريانې يې مهيا کړه شمائلې
چې ليدې به مې سنګينې په تصوير کې

نګـــاره پـــه زړګـــي راکـــه داغونـــه يـــو څـــو نـــور
چې زيات دې شي د مينې يادګارونه يـو څـو نـور

فرهاد به ځان ته وايې نهٔ مجنون به ځان ته وايې
چـــې وخـــورې د پلکونـــو ګوزارونـــه يـــو څـــو نـــور

حيا پکې ګياه شوه نورې هـم شـته ډېـرې تمـې
مـــاتېږي بـــه د عشـــق روايتونـــه يـــو څـــو نـــور

حســـېږي ولـــولې د ننګيـــاليو غـــرض دا چـــې
خـــالي دي د وختونـــو زندانونـــه يـــو څـــو نـــور

مننـــه دې اشـــنا د غفلتونـــو يـــو څـــو نـــورو
پيـــدا دې كـــړل زمـــا ضرورتونـــه يـــو څـــو نـــور

نـــه مـــوږ بـــه درتـــه ښـــكارو نـــه زمـــوږه ناكامونـــه
چـې بـل شي سـتا د حسـن مشـالونه يـو څـو نـور

اختيـــار د تحمـــل مظـــاهره كـــړه شـــمائلې
راپـــاتې دي د ژونـــد ازمايشـــونه يـــو څـــو نـــور

چې مې کور د الفت، پکې وران شو
زړه مې تور، هغه دم، له جهان شو

نور عالم مې ؤ ناست، تماشې ته
خپل پړونی، د سر مې بادبان شو

طرز د هيڅ صداقت دې زده مه شه
دا جوهر، الغرض، چې ارزان شو

نور دې ښومره، نيولي قصرونه
يو خو دا ؤ، دا اوس چې تالان شو

رابطې، د انا مې چې پرې کړې
له مکان نه مې جوړ، لامکان شو

چې زما، په لمن، باندې داغ ؤ
ستا په ښنو کې ګل، د ريحان شو

هغه راز، شمائلې ـــــ دا نه ؤ
کوم چې ما ته، په غوړ کې بيان شو

○

چې د حسن مې معنا کړله پيدا
ما د عشق ورکه دنيا کړله پيدا

چې لمن به يې ترې ښکارې خپل قاتل ته
هغه ونه ـــ زکريا کړله پيدا

د مخلوق د تمې سيورى مې پر سر ؤ
چې مې تمه ـــ د الله کړله پيدا

تا د خپل دستور لښنده کانې پيدا کړل
ما چې غاړه د مينا ـــ کړله پيدا

خپل خطا عمل د عرش په مالک پلورم
د دعا مې ـــ مدعا کړله پيدا

کوم انسان به دې له لاسه وې خاموشه
د خپل شور دې ـــ که منشا کړله پيدا

چې مې شپې د خوشالۍ پسې سبا کړې
هغه شپه مې ـــ په سبا کړله پيدا

له مستۍ يې په تش لاس ورټکومه
دروازه مې ـــ د ګدا کړله پيدا

چې مې عقل صحرايي کړي شمائلې
يعنې ما ـــ هغه صحرا کړله پيدا

ستا د حسن په تصویر کې بدرنګي زما خورېږي
په دې لېهر د کوثر کې ازلي وبا خورېږي

اوس به بیا په بیابان وي کېږدۍ پاتې د کوچیانو
اوس به بیا تنهایي زور شي د سهار رڼا خورېږي

په وطن د عاشقۍ کې ناجایزې دې چې اورم
شول قلم د چا سرونه هنګامې د چا خورېږي

تا نه لارې بېلومه، وي به ټوکې خو ویرېږم
دا دي ستا د خولې خبرې او خبرې ستا خورېږي

لاړو زور مې د وفا شولو کم رنګه کم صورته
په قدم قدم ډېرېږي یعنې ستا جفا خورېږي

ستا هنر زده د خبرو زما څه زده بې له غمه
ستا دروغ وي رېښتیا شوي چې زما رېښتیا خورېږي

دا وطن داسې وطن دی شمائلې یعنې دلته
کله کله ساه ډوبېږي، کله کله ساه خورېږي

◯

زه د تنهــايۍ لــه نومــه کرکــه ځکــه نــه لــرم
نـور لـه دې بغـير پـه دې فـاني دنيـا کـې څـه لـرم

عشــقه د انکــار جــواز دې څنګــه را پيــدا کړمــه
نښــې دې پــه مـخ کـې د شـوګير او بېلتانـه لــرم

واړه علامــات مــې د جــمال شـــول د زوال پڅېــر
لام لـرم پـه زلفـو کـې کـه ګـل پـه سره لېمـه لـرم

زوی مې د مکتب لـه لارې مـه وړه د مـيرې پـه لـور
سره دې شه په وينو که په کور کې سپين او سره لرم

څـوک بـه يـې لـه مرګـه هـم ونلـري پـه دې انـداز
زه چــې کــومې تمــې لــه دې خپلـه ژوندانــه لــرم

مــه يــې رانــه اخلــه د دنيــا پــه نــورو چــارو کــې
دا يـــو څـــو غمونـــه مـــې د سر او زنګانـــه لـــرم

مـــه رايــــادوه د شــــمائلې ارمــــاني ژونــــدون
خدای په دې ګـواه دی کـه سـوچونو تـه مازغـه لـرم

○

ما په خوب کې ويروي يوحالت د ځانځانی
پېغورونه راکوي د الفت د پښېمانی

هاغه تورې مې کمځی، وې اسيرې د غربت
اوس په سر کې مې دا سپين، ګوره زر دي د خانی

شيخ دی ناست په خلوت ډوب له هر غمه بې پروا
کار يې نشته د دنيا، په وراني په ودانی

يا بې حده دی مايوس په ډانچه د خپل وجود
يا خو نلري جوړه، په دنيا کې د ثانی

څوک ولي يې که ابليس دا مې نزده خو مګر
سوال دې غواړي په مزار، ډېرې نجونې کوچيانی

د لباس مې دومره زور، د تهذيب مې دومره موج
چې بلبلې مې د چين، کوي غاړې افغانی

ګرځي ګرځي په ناتار، شمائلې هر سهار
دواړه سترګې شوې زما، دوه کوترې سارانی

ځــم پــه لار د انــا الحــق نعــرې وهمــه
په هر مخ کې چې تـا وينم پسـې ځمـه

نن رقم لوح محفوظ کې هجـراني شـوم
مړې مړې اوښکې مې بهېږي لکه شمعه

علامــې د ملالــۍ راکــې پيــدا شــوې
چــې پــه خــون د خپـل اشـنا ولمبېدمـه

نظريــه د وحــدانيت مــې کــړه حاصــله
د الحـــاد او ارتـــداد لـــه زيـــر و بمـــه

الزامونـــه ســـتا د ســـترګو راتـــوکيږي
تور بابري دي په کمڅو کې يـې ټومبمـه

ستا د حسن بې له غمـه بـل حاصـل څـه
چــې کچکـول د فقيـرۍ ورپســې وړمـه

شــومه دم د يـار د مينــې پـه وطـن کـې
پــه ارمــان د خپـل ارمــان کــډې تړمــه

زه سرونـــه لويـــوم د سر بـــازۍ تـــه
يعنــې زه چــې څــه کــرم هغــه ريبمــه

يــزداني زړه مــې رنځــور دی شـــمائلې
لاهـوتي سترګې مـې ډکـې دي لـه نمـه

◎

کړم تماشه د هر يـو رنـګ هـوش و هـواس کـې يمـه
خو غږ مې ځکه دی خاموش چې په وسواس کې يمه

د صــورت غوښــې تويــوي د تــن هډونــه زېښــي
زه چــې لــه کومــو انديښــنو سره تمــاس کــې يمــه

د پښــو څپلــۍ سره مــې هــم برابــري نــه کــوي
کـوم پټکيـوال تـه چې ورپـاتې پـه مـيراث کـې يمـه

خلـک منظـر د خپـل وطـن تـه سينګار کـړي درومـي
زه ورتــه ناســته د کفــن غونــدې لبــاس کــې يمــه

مــا لــه سرکــش تقــديره کــړی بغــاوت د جنــون
لکـه د فـال لکـيره پـاتې پـه خپـل لاس کـې يمـه

پــه کــوم اواز د حکايــت دا شــکايت وکــړم چــې
زه له خپل ځان نه په حِرمان کې يم په يأس کې يمـه

د خپلــولۍ احســاس مــې نشــته شــمائلې دلتــه
خدايزده دېره په خپـل وطـن او کـه پرتـاس کـې يمـه

پـه کـوم دلیـل مـې وژنــې څـه دلیـل خـو بـه لـرې
کــوم پــور زمــا د مینــې پــه خلیــل خــو بــه لــرې

ما وینه د اسلام په لار کې تـوی پـه دې غـرض کـړه
جنتــه چـــې یـــو نهـــرِ سلســـبیل خـــو بـــه لـــرې

ښایســـت دې د خلـــوص لـــه لارې نشـــې بېلـــولی
نغمــه چــې د داؤد یـــې نـــو ترتیــل خــو بــه لــرې

لښـکر د ابرهـه بـه پښـېمان پـه خپـل راتـګ کـړې
کعبـــه چـــې د الله یـــې ابابیـــل خـــو بـــه لـــرې

قسـم چـې پـه ناحقـه درتـه وخـوري پـه جرګـه کـې
د خــان زویــه یــو داســې کــوم وکیــل خــو بــه لــرې

ژوندونې باندې مړ یې غبږ دې نه خېژي لـه خـولې نـه
ضـــمیر دې چـــا وژلی دی قاتـــل خـــو بـــه لـــرې

ثابــت کــړه راتــه مــرګ د شــمائلې یــو کتــاب کــې
قــران نــه کــه مــخ اړوې انجیــل خــو بــه لــرې

راته پروت د چا تصوير دی کربښې کربښې
کـه زمـا د زړه تعمـير دی کربښـې کربښـې

د تقـدير د کربښـو ظلـم پـرې معلـوم دی
چې مې مخ لکير لکـير دی کربښې کربښې

نـه د حـق نـه د باطـل پـه مطلـب پـايم
مات آئين مې د ضمير دی کربښې کربښې

د ازل لــه کربښــو پرتــه دې هــم ژونــده
ګوره لاس د هـر فقـير دی کربښې کربښې

د خلــوص د نقــادانو ښــار کــې اوســم
زمـا زړه پکـې اسـير دی کربښـې کربښـې

د جنـون اسـم اعظـم مـې پکـې ورک دی
رانـه تـاو د غـم زنځـير دی کربښې کربښې

هــم مــې ذهــن اواره دی شــمائلې
هم مې ذوق د بم او زير دی کربښې کربښې

زه لــه تانــه کــړم فــرار، زمــا ځانــه فراموشـــه
خرابېـــږې وار پـــه وار، بـــې درمانـــه فراموشـــه

نه له خوبه شوې راویښ، نه په مرګ د خپلې مینې
نـه پـه بخـت شـولې بیـدار، زړه انجانـه فراموشـه

هـدیره یـې هـدیره، هـر کـه ښـار یـې د وګړیـو
درنــه کــډه مــې کــړه بــار، بیابانــه فراموشـــه

څـو یادونـه د یـو چـا، درکـې ویـنم بـې مجالـه
دل آزار یـــــې دل آزار، رېګیســــتانه فراموشـــــه

ورتــه رادې وړل ازغــي، پــه نامــه د پسرــلي نــن
تـــا زمـــا د مینـــې لار، کـــړه ویرانـــه فراموشـــه

چـا دې نـه وړلـه خنـدا، لا پـه یـو مـوټي چنـو هـم
مـا دې ځـان کـړ منتبـار، ګـل خوبانـه فراموشـه

زه حسرـت یمـه شـبخون، تـه جنـون د شـمائلې
ټـول ژونـدون دی پـه ناتارــ مـا و تانـه فراموشـه

○

چاته سپين و زر انبار کړې، په چا خاورې د مزار
چاته زلفې کړې مهينې، چاته سرې رسۍ د دار

چاته رنګ د صبوري کړې، په بېلتون فراق بدل
چاته تور د بلا لاس کړې، د ژوند نخل مېوه دار

ميني روح زما مجروح کړ، د شعور نظر مې لاړ
امتياز يې رانه هېر کړو، د مسيح او د بيمار

تا ازار زما اوزار کړ، بيا مې هم ګڼې شتمن
نور به څومره شي کمزورى، چې ازار يې شي اوزار

څوک کوي زما په قبر، تجاهل عارفانه
رانه ساتي د ژوند هيلې، په ما خاوري دي انبار

چې ياري کړي د خوبانو، ملامت وړي د تقدير
نيسيـ لار د اخوندانو، چې په زړه ورکوي لار

رانه اخلي شمائلې، حوصلې د زنده ګۍ
تجربې د زنده ګۍ وي، د مرګ لاره کې روزګار

○

د بېوسۍ يو دغـه راز پـه زړه کـې پـټ سـاتمه
زه د خپل سوي زړه اواز په زړه کې پټ سـاتمه

خلکو ته نه وايم چې ته يې ما ته څومره نزدې
په تا چې ناز کومه ناز په زړه کـې پـټ سـاتمه

ګرانه به ډېره وي ډېري به ډېر د صـبر غـواړي
چې تر انجامه دا اغاز په زړه کـې پـټ سـاتمه

ما ته به څه، تاتـه بـه څـه يمـه تـا ډېـر وويـل
خو مګـر زه دا امتيـاز پـه زړه کـې پـټ سـاتمه

د دنيا خلک پرې ځوربېږي پرې رنځېږي خو زه
د مينې داغ لکه اعجاز په زړه کې پـټ سـاتمه

د بدن رنګ مې زېړوي کـه وچـوي مـې وينـې
د غم نرګس لکه شهناز په زړه کې پټ سـاتمه

چـې د ژونـد راز پکـې غړېـږي شـمائلې د چـا
هغه سرور او هغه ساز په زړه کـې پـټ سـاتمه

○

په هر نظر دې شمعې بلې کړم له ځانه سره
اوښکې دې توی په ماښامي کړم له هجرانه سره

زه مې له خپل مسيحا ډول و سينګار نه غواړمه
ورسره اوسم له ريښې ريښې ګرېوانه سره

ذاهده مه وايه خلاف د هغو خلکو په حال
چا چې په بيعه يې اخيستي له ايمانه سره

ما د رقيب او د يار هسې غمازي کوله
څنګ په څنګ ناست ؤ دروېزه له پير روښانه سره

نه يو بل وژني نه د يو بل د حقونو غله دي
هغه قامونه چې سيالي کړي له اسمانه سره

چې ستا د مينې د منصب په نوم راوټوکېدو
هغه امېد مې کړو بلد له رېګيستانه سره

نه يې منزل شته نه حاصل نه شمائلې ساحل
زه چې روانه يم د ژوند له کوم کاروانه سره

◎

وکــړي واويــلا چــې دې منظــر تــه راشي، لاړه شي
هــره خوشــحالي چــې زمــا در تــه راشي، لاړه شي

ورکــه ده لــه مانــه، هغــه خپلــه پخــوانۍ څېــره
لــږ مــې د پخــوا غونــدې نظــر تــه راشي، لاړه شي

ښه دې رنګ دې تور خو د سکون ستورې دې مه لوېږه
شــپه د اندېښــنې مــې، چــې سحر تـه راشي لاړه شي

خــدای خــبر چــې ولــې زنــدګي رانــه مايوســه شي
خـدای خـبر چـې ولـې مـې، خـبر تـه راشي لاړه شي

اوس مــې د ســبا لــه نومــه کرکــه پيــدا شــوې ده
اوس يــې چــې رڼــا د کــوټې ور تــه راشي لاړه شي

وعـظ د بـې ننګـو يـې پـه خپـل منـزل شـکمنه کـړي
څړيکــه د فــرار مــې چــې وزر تــه راشي لاړه شي

وخانـدي لـه غمـه ـــــــ شـمائلې چـې دې ووينـي
دا ارواح د مــړي ـــــ دې اخــتر تــه راشي لاړه شي

○

دا د نــن ســبا وليــان، کــه عــرب دي کــه عجــم
دلتــه وينـــې تويـــوي، هلتــه لامبـــي پـــه زم زم

د عـــلي او مصــطفی، يــا پــه نــوم د چــا و چــا
وي شــکېدلي کــالي پــروت، دروازه کــې د صــنم

بايزيـــــده بســـــطامي، زوی دې مــــړ د کتـــــاني
ستا يو دغه هنر زده، چې خپل ځان کړې تری تـم

وهـم ور د هـر آئـين، چـې راجـوړ مـې کـړي يقـين
رانــه واخيســت زمــانې، د فطــرت اســمِ اعظــم

سر د خــاورو مــې سِــفال، زمــانې کــړ پــه زوال
غم مې سبر شي تر مثقال، چې صهبا ورپکې څښم

لاړ د مينـــې مـــې پَيکــر، ســودايي شــو ســودايي
خپل مسيح پسې هـم اوس، يعنـې نـه اخـلي قـدم

زه بــه زانګمــه پــه دار ـــــ شــمائلې پــه ناتــار
ســتا بــه زانګــي پــه اوږو، تــورې زلفــې پــيچ و خــم

○

مـا بـه تېـر کـړی لـه اشـنا سره وای
زمـا د ژونـد اختيـار کـه مـا سره وای

ناست به تمامه شپه د سيند پـه غـاړه
د چراغونـــــو لــــه رڼـــا سره وای

دې پـروا دارو تـه چـې ګـورم وايـم
کاش چې له هغه بـې پـروا سره وای

سـاه بـه مـې ولـې ډوبېـده لـه غمـه
که هره ساه مې ستا له ساه سره وای

کـه پـه زوال ؤ د خپـل عِشَـق خـبر
مجنـون بـه تلـلی لـه دارا سره وای

کاش چې زمـا د بـيمارۍ عـلاج هـم
لـه کـوم طبيـب او مسـيحا سره وای

ؤ يـــې راوړی شـــمائلې ـــــ راتـــه
د لاس کاغـذ يـې لـه هـما سره وای

بـــدلوي چـــې د سر ســـترګې
مـه يــې وينــه مګـر سـترګې

ستا له هجـره پـس حـرام شـه
کـه لـري مــې نظـر سـترګې

ګرځـــوم لـــه اوښـــکو ډکـــې
اوس پـه هـر مـازيګر سـترګې

ستا شوې سترګې فقط سترګې
يعنـــې نـــهٔ د اثـــر ســـترګې

وې بـه سـترګې مــې ختلـــې
چــې راوړي دې خـبر سـترګې

پــه وطــن مــې ســلام وايــه
چــې راخېــژي د لمــر ســترګې

غـــم مـــې راوړې شـــمائلې
د حيــات پــه ګــودر ســترګې

زيات و کم دې شو دا وېش د انصاف ولې
چا ته تـاج دې کـړ پـه سر چـا تـه خځلـې

چــې د غرونـو ولــې نــه دي نــو بيـا ولــې
پرې کـوې مـې پـه شمشـېر د زړګـي ولـې

دېـره شـوی دی کـوم وړم پـه دمـاغ کـې
چې اوسـېږې تـل پـه سـيوري د سـينځلې

ښـه ځوانـان هغـه يـادېږي پـه معنـا کـې
زمــانې چــې ورتــه وايــي ـــــ بلــې بلــې

وه د ځمکـــې بـــې حسيـــ راتـــه ولاړه
چې مې ستـرګې د اسـمان پـه لـور ختلي

د ښــو ورځــو اشــنايانې ـــــ مــې راغــلي
خــو مګــر چــې دي دا ټــولې ـــــ نــابللې

ژونــد دې يــوړو شـــمائلې سرو لمبــو تــه
اوس نعـرې پسـې وهـې چـې جلـې جلـې

هـم مـې زور شـو د زړه کـم هـم مـې نظـر پـه کمېـدو دی
شـو انبـار دې پـه مـا غـم مسـيحا حـال مـې د کتـو دی

زړه زمـا بـه سـتا د عشـق پـه اور کـې ولـې خوشـال نـه وي
خليـل ناسـت لکـه بـاغوان ګـوره پـه مـنځ کـې د لمبـو دی

پکـې روح زمـا ډېـر تنـګ دی، تـور زنـدان راتـه ښـکارېږي
څوک په دې مې کړئ قانع چې، جهان ځای د اوسېدو دی

دې ديار لره دې راشي، که څوک ځـان شـته کـول غـواړي
بل منصب که د چا نـه وي، عشـق منصـب د غمخـورو دی

اوس دانـا چـې ورتـه وايـې، نـو لـه غمـه خنـدا راشي
چـې پـه کـوم بهلـول دې کـړی، تـل ګـمان د لېونـو دی

وخــت ببخــي دی بــدل شــوی، شــمائلې تــر پخــوا نــه
يعنـې فـرق پکـې ګـران شـوی، اوس د خپلـو او پـردو دی

نن سبا مې داسې حال دی چې هيڅ نه دی د ويلو
ژوند بندي مې په زوال دی، د تقدير د سرو منګولو

زړه دېوال مې د قلا و، مګر ستا غمونو وخوړ
يعنې اوس هغه دېوال دی، ورو ورو سر په نړېدلو

په حالت پورې مې خاندي، قبيلې د جمشيديانو
بخت زما جامِ سِفال دی، دا دی وړ د ماتولو

سرهْ د حسن دې ښانګونه، د خلوص په وينو رنګ دي
باغ و بڼ مې په ناخوال دی، د خيالونو د بلبلو

عقل ګوره چې راپېښ يې، لوی تمثيل د لېونتوب کړ
په اويا نفسه مې خيال دی، له دې غمه د خندلو

نتيجه يې وي د خپلې، عيبګويۍ داستان ته تمه
د بل عيب د بوډۍ تال دی، دا وي نه د رانيولو

ښه يې وګڼمه ښنګه، شمائلې هغه عشق چې
هر احساس يې رانه واخيست اوس د ښه او ښه ګڼلو

مات دې نه شول په قران ايښي لاسونه
چې کول دې په دروغو قسمونه

زړه مې داسې ستا په هجر کې خوټېږي
چې ګريز يې کړي له حاله حبابونه

خير که بوج دي اشنايانې په وګړيو
په اوښانو کجاوې ښکاري بارونه

شمعه نلري په کور کې څو ژوندی وي
پس له مړينې پرې بلېږي څراغونه

احمقان چې لټون سر کا لټوي بيا
په سينو د ښامارانو کې لعلونه

د طبيب کوڅه کې روح راځنې ولاړو
د نصيب په ما راپرې شول تناوونه

دا قصور مې د خندا دی شمائلې
راکوي چې په خندا اذيتونه

◯

راشــه وګــوره زمــا د ارمــان ــــ مــړی
چې د خپلو اوښکو سیند په مخه کړی

شــکایت تــه د تقــدیر یمــه ــــ روانــه
ســتا تصــویر رانــه ولاړو ــــ اوبــو وړی

زده کــوي پــه مــا د غــم ــــ د هــما ژبــه
زړه مــې ځــان د ســلیمان پــه بنــد تــړلی

هغه تلونکي مــې راستون نکــړل لــه لارې
هسې ځان مې کړو پــه ډېــرو نعــرو ستړی

هر یو ناست دی مات ائین د ناشکرۍ ته
تر دې وېش دې خوشال ندی هیڅ وګړی

پــه رنجــو د ســلیمان دې ســترګې تــورې
د منصــور پــه وینــو ســور دې د دار پــړی

مــا راوړی دی ســلام ــــ د شــمائلې
تــا راوړی دی د ژونــد ماښــام نیمګــړی

○

چې اوسېدمه پکې ګرانه په ما
هغه دنيا دې کړله ورانه په ما

دا زه په کومو صحراګانو راغلم
څوک به دې وليکي داستانه په ما

کړه مې فنا له دې بې خونډې نړۍ
که دې نظر وي له اسمانه په ما

د مکان خلک مې بې حسه دي ټول
ته خو خبر يې لامکانه په ما

تا هم نذر ـــــ د رغېدو منلی
ای تکه زېړه ـــــ ارغوانه په ما

چې مې لمحې د بدبختۍ راغللې
ته هم ګويان شوې بې زبانه په ما

د سکون حس دې شمائلې راځي
د درد و غم له ډک ديوانه په ما

هـم رژېـږي هـم مـاتېږي ـــــ يـو تـر بلـه بـاهمي
تور ويښتان مې زعفراني کړل د وصال د خون کمي

شوې د سترګو فوارې مې، نـن رامـاتې ستا پـه نـوم
وچومــه پــه آهونــو ـــــ د ګرېــوان څمکــه نمــي

چې واقع يم خوشفهمۍ کې، د خپل قام تر بد حالت
دا آئين دې د خپل مخ دی، دا د تا ده خوش فهمي

نـه د عشـق وفـا خـبرې، بـې لـه ټوکـو دي بـل څـه
او نـه سـتوري راتـه ښـکاري، پـه لمنـو کـې غمـي

يا يې پرېده يا يې مات که، تر دې بل يې نشته حـل
چـې د بـار کـاږه لرګـي دي، کلـه نـه مـومي سـمي

يـم پـه داسـې يـو عـالم کـې، لـه آلـه پـه خنـدا
چې د يو وي د غم زيری، بل تـه خـوب د بـې غمـي

دا د چـا پـه مـرګ مـې وژني، شـمائلې خپـل تقـدير
دا د چا پـه لاس يـې راکـړې، د غـم ورځـې تـورتمي

○

ژونـد ځینـې خـتلي مـې لېمـه پـاتي
نـور د رغېـدو پـه مـا کـې څـه پـاتي

تل چې راخلاصېږي په سیلۍ بانـدې
سترګې مې پـه لـور د هغـه وره پـاتي

تـــه دې د وصـــال قاصـــد راولېـــږه
مـــا سره تحفـــې د بېلتانـــه پـــاتي

ؤ چې سر بلند د عشق پـه چـارو کـې
اوس هـم هغـه سر پـه زنګانـه پـاتي

تیر شي یا خنجر شي یا نېزې د مرګ
دغـو تشـبیهاتو تـه بانـه ـــ پـاتي

مه راکـوه وخـت چـې هـر څـه ووایـم
ډېـرې نـاویونکې مـې پـه زړه پـاتي

څه به یې حاصل کـړې شـمائلې تـهْ
مـا نـه چـې د نـوح پـه ژوندانـه پـاتې

هـر اميـد مـې بېنـوا کـړي، بېنـوا غونـدې يـو رنـګ
لـه عالمـه مـې تنهـا کـړي، انتهـا غونـدې يـو رنـګ

د انــا هــوس اخيســتې زمــانې کــې يمــه سر
د جفــا لارې راښــايي، د وفــا غونــدې يــو رنــګ

يــزداني چِلــو تــه مــه وړئ، خــامکي هلکــان نــور
جيلاني ته خناس واغوست د الله غونـدې يـو رنـګ

تـــر اويـــاوو مينـــدو زياتـــه، لـــري مينـــه راسره
څومره ډېر مې پروادار دی، بې پروا غوندې يو رنګ

د دنيا د عشق مـدام وي، پـه خـوږو کـې زهـر پټ
لکه زه چې د خنـدا کـړم، د خنـدا غونـدې يـو رنـګ

مــا لاســونه د خپــل غــم دي، اچــولي پــر اوګــو
مګر دې ته هم پسخېږي، مسيحا غوندې يو رنـګ

ماســبوا لــه درد و غــم يــې، شــمائلې نشــته هــيڅ
ماسبوا غوندې يورنګ دی، ماسبوا غوندې يو رنـګ

○

بېهوده مې کل حواس شي په خلوت کله نا کله
رانه ورکه شي قبله د عبادت کله نا کله

دلته دا خطا ونکړې، دلته ډار دی چې بدلېږي
محبت د معصومانو، په نفرت کله نا کله

اسوده اوسېدل مکړه، تن آسان کړي د کار خلک
زنده ګی لره پکار وي، اذيت کله نا کله

ستا د حسن يو نيم خوب مې، ويروي له هر سبا نه
رنګ مې زېړ ارغواني کړي، د صورت کله نا کله

تا نه يو د انګور تاک دی، پاتې شوی په وطن کې
پاتې کيږي له شاهانو، سلطنت کله نا کله

شريعت چې کله ورشي، په ميراث د اهل ذوقو
د خپل حق به درنه اخلي، اهليت کله نا کله

بې حسابه يې ترې غواړم، شمائلې له عناده
که مې چونګ وي له خرواره، ضرورت کله نا کله

زه چې کوم امید ته سر درجګ کړم ستا په لوري
ستوري دې اسمانه پېغـورجن غونـدې راګـوري

هلتـــه بـــه وي وار رانـــه اخیســـتی عربـــانو
دلته مې پـه ځمکـه بانـدې نـه پرېـدي سرزوري

سیند شو نه سېلاب شـو سـتا د هجـر لـه پېرېـو
اوښـکې دې زمـا چـې د بـاران غونـدې را اوري

کاش چـې د ولـور قـایلان دې بانـدې خـبر وای
لـونې ودوي کـه پـه پیسـو بانـدې یـې پلـوري

جرم دی د ژونـد کـه د محشرـ د حسـاب ورځ ده
زه د وضـــاحت لپـــاره ـــــــ نـــه لرمـــه تـــوري

ګــل مــې شــو پــه لاس کــې اواره پــه رژېــدلو
لاس دې روشندان کـې د بېلتـون د بـلا ښـوري

مــه راځــه پــه خیــال بیــا د ژونــدیو شــمائلې
ژونـد زمـا د مـرګ مصـور ګـوره چـې انځـوري

واعظـان د بـل ژونـدون لارې راښـايي
ستا له عشقه د خلاصون لارې راښايي

چـې نــه تــا پکــې لرمــه او نــه مينــه
وخــت د هغــه ســباوون لارې راښــايي

يم د بخت په ړونـد مارغـه پسـې روانـه
ســتا د حســن د لتهــون لارې راښــايي

چا د ګل په ګـوزار هـم ويشـتلی نـدی
څوک چې ما ته د جنون لارې راښـايي

هــر وصــال دې د زوال کــوي خــبرې
هر وصال دې د بېلتـون لارې راښـايي

په خندا خندا مې وړي خپلې ماضي ته
پـه خنـدا د زړه چـاودون لارې راښـايي

قــاتلان راتــه ولاړ ـــــ دي شــمائلې
په خپل روح پسې د يون لارې راښايي

◯

چې ستا د حسن او جمال په خوب کې ويرېدم
که سومَنات کې د زوال په خوب کې ويرېدم

ته رانه تللې په سفر د بل وطن په لوري
په ما راپرېوته دېوال په خوب کې ويرېدم

ؤ مې چې باغ د زړه خزان په تمحل کې ومه
شو مې چې داغ د جبين خال په خوب کې ويرېدم

کرښې د لاس مې شوې په څېر د بېلتانه د لارو
کته مې ستا د مينې فال په خوب کې ويرېدم

ته خو مې ياد په لا تحزن يې لايزاله ربه
خو زه د بل يو لايزال په خوب کې ويرېدم

په ګدايۍ شکر ګذارو لره خوب يوړمه
د سلطانانو په ناخوال په خوب کې ويرېدم

په خپل ژوندون باندې مې شک ؤ شمائلې د مرګ
تا مې چې واخيسته احوال په خوب کې ويرېدم

○

په منځ کې اوسـم، د بـې شـعورو
ښځې يې پرېښي په نيت د حورو

کړلې يې ورانې، د يو بـل خـونې
چـا پـه کجـورو، چـا پـه انګـورو

دي د قاضــيانو، چــوکۍ نيــولي
په دې وطن کـې، د سر رنځـورو

د زوال جـام دی، دلتــه ګــوټلی
ډېــرو سرکشــو، ډېــرو مغــرورو

هغه نسـلونه، اوس غلامـان دي
چې پېژنـدل بـه، خلکـو پـه تـورو

ورکـړ يـو بـل تـه، تلقـين د صـبر
دلتـه لـه ژونـده، ناسـتو خونپـورو

نه څـوک خبر دي، لـه شـمائلې
او نـه لـه حالـه، د کونـډو بـورو

○

زه لـرم پـه ځنـګ کـې تـا، صـنمه ځکـه بـې پـروا يـم
د دنيـــا او مافيهـــا لـــه غمـــه ځکـــه بـــې پـــروا يـــم

وې نمې مې ګرېوان هر وخت، هسې هم له خپل نصيبه
سـتا پـه هجـر لـه راتلـونکي نمـه ځکـه بـې پـروا يـم

هيڅ مې لاس د احتياج نه ځي دې عالم ته چې يې وينې
بـــې پـــروا لـــه دې آلـــه يمـــه، ځکـــه بـــې پـــروا يـــم

نـــه د رزق مـــې وعـــده ده، پـــه کوڅـــو کـــې د شـــتمنو
نـــه د خلکـــو دروازې وهمـــه، ځکـــه بـــې پـــروا يـــم

زه مينـــه پـــه داســـتان يـــم، د بـــادونو او وږيـــو
کـه پـه هـر لـوري مـې وړې قدمـه، ځکـه بـې پـروا يـم

دا متـــل دی چـــې وربـــږي، پـــه بـــاردارو ونـــو کـــاڼي
زه د ژونـد لـه پيغـورجن موسـمه، ځکـه بـې پـروا يـم

نـه پـه تلـو د چـا خپـه، نـه پـه راتلـو يـم شـمائلې
نـه پـه زړه کـې څـه کـرم ربمـه، ځکـه بـې پـروا يـم

داسې يـو بـار دی راپـه سر، چـې تـوان يـې نـه لـرم د وړو
ورسره عمــر تېــروم، خدايــه د خپــل زړه پــه خــوړو

داسې يو شک کې يم واقع، چې نـه ايمـان دی نـه ګـمان
پــولۍ د زړه مــې پخــوم، پــه اســوېلو ســړو ســړو

څراغ مې بل کړ ستا د ياد، ما وې چې زړه به مې کړي ښاد
دهْ مـې هـم سـترګې کـړې را ډنـډ، پـه انديښـنو زړو زړو

ژړا فريـاد دی کـور پـه کـور، ټولـه دنيـا يـې اوري شـور
خـو غـبږ د وړيـو د سـلګو، کلـه اثـر کـړي پـه مـړو

ډېــر عجيبــه دی ژونــد روان، دا تعــدل دی دا ميــزان
څـوک د وريښـم پـه لبـاس پـټ، د چـا بړسـتنې د شـړو

ومې ليدل په سپين ميدان، چـې ويـاړ او فخـر يـې کـاوو
پــه موزيتــوب د بــل د قــام، زمــا د قــام د سر ســړو

تــا تــه دريــاد کــړل حاســدان، د شــمائلې پرېشــانۍ
مــا تــه رايــاد کــړل اشــنايان، د خپلــو وينــو غرغــړو

○

پــه حسرـت هــم زمــا نــه دی، پــه ارمــان هــم زمــا نــدی
ژونـد کـه شـهرِ نـا پرسـان دی، نـا پرسـان هـم زمـا نـدی

دا دعــا مــې هــم پــردی‌ده، دا منشــا مــې هــم اســیره
دا نصـیب هـم لـه مـا ورک دی، دا اسـمان هـم زمـا نـدی

دا منصـــب د نـــورو نـــورو، دا ښـــکارېږي چـــې د ســـتورو
پــه تقــوا هــم زمــا نــه دی، پــه ګِریــان هــم زمــا نــدی

پـه نامـه د خپـل صـورت مـې، حـال د کونـډې تماشـه کـړ
دا چــې مــا دی څــیرې کــړی، دا ګرېــوان هــم زمــا نــدی

د خوديت په ګدۍ ناست دي، ټول لـه مخـې خپـل سري کـا
شــهزاده د وطــن څــه چــې، پــاده وان هــم زمــا نــدی

خـدای خـبر کـومې شـغلې تـه، د معـراج پـه نيـت ولاړ دی
هســې وايــم ژونــد روان دی، ژونــد روان هــم زمــا نــدی

پــه خپــل حــق شــومه منکــره، بيــا مــې ووې شــمائلې
دا جنــون هــم صــحرايي دی، دا داســتان هــم زمــا نــدی

◯

ستا خندا نه وه خندا, نه دی راضي
زما زړه په دې سودا نه دی راضي

روح مې ناست دی د مرګي په ګدۍ ژاړي
په بېلتون باندې زما نه دی راضي

نقلِ کفر، کفر نه وي څو د ده وي
که زما ؤ بیا ملا نه دی راضي

وي جنون به مې تېر ويستی عاقلانو
چې زما په واويلا نه دی راضي

چې بهر شوم تر احتیاج د اشنایانو
په دې ما نه هيڅ اشنا نه دی راضي

نېکوکار دې په خپل کار نه کوي لافې
ګنهګار چې په ګناه نه دی راضي

زه تنها یم شمائلې ـــ ناوېسا یم
روح مې هم دی ناوېسا نه دی راضي

رامـات واړه عـالم دی او تـه نـه يـې
په مـا بانـدې مـاتم دی او تـه نـه يـې

چينـه شـوه د حيـات راځينـې ورکـه
ارمـان د جـامِ جـم دی او تـه نـه يـې

د سـوال شـړی پـه غـاړه درتـه راغلـم
د کال وروستی موسم دی او ته نه يې

ولاړ يـې ـــــ بـې معنـا دي منارونـه
دا زړه دی دا حـرم دی او تـه نـه يـې

وچېـړي پـه سـړو ـــــ سـړو آهونـو
په سترګو کې مې نم دی او ته نه يـې

لېمـو مـې ژبـه زده د مايوسـۍ کـړه
جهـان صـنم صـنم دی او تـه نـه يـې

زه غـم د شـمائلې ـــــ ځکـه ژاړم
هغـه مـې همقـدم دی او تـه نـه يـې

جــوړوي چـــې مــدعيان مـــې طوفانونـــه
دوی وژلي د منــــزل مـــــې مشــــالونه

پــه دې خــاوره د هغــو دي ســل نصــيبه
چې تر شا يـې د يـو مخ وي سل مخونـه

هسـې رنـګ مـې دي پـه زړه پـولۍ ولاړې
چـې پـه څنـګ ځينـې تېرېـږي حبابونـه

ځـای دې لـرې دی د ځمکـې لـه ريبـاره
او سـپوږمۍ دې راتــه نــه وايــي حالونــه

د زړه راز بــه دې بيــان کــړې بيـا بــه ژاړې
ځينــې خلــک د چــا نــه ســاتي رازونــه

رياکار دې کړل په حق ړانده سپين ږيـري
نېکوکــاره خــدای دې درکــړي عِوَضــونه

اوس ډېـري راتــه د تــورو خــاورو ښــکاري
چـــې زمـــا د زنـــده ګـــۍ وو مظهرونـــه

دلتـــه اچـــوي ټـــول خلــک لـــه رواجـــه
خپلــــې واورې د پرديــــو پـــــه بامونــــه

ستا په خوله کې د نقلي غاښـو برېښـنا وه
مــوږ پــرې ورټــل د حســـن معيارونـــه

تــن آســانه ژونــد عــذاب وي ـــــ شــمائلې
شته وجود کې درنه غوځ کړي پښې لاسونه

مـا نـه لـرې لـرې ګرځـئ، پـه ريُـا بانـدې مئينـو
درواغجنوعنـــاد ګرو،پـــه انـــا بانـــدې مئينـــو

تل مو پانې پکې زېړې، تر هر چا وي وړاندې وړاندې
پـه سـدرا بانـدې مئينـو، منتهـا بانـدې مئينـو

د غـزا نعـره چـې واورم، ددې خلکـو زړه کـې وايـم
انـــالحق بـــه وي وژلی، پـــه الله بانـــدې مئينـــو

پـه فـاني بـاغِ اِرم يـې، سـتا د مـخ کړمـه مئينـه
د شـداد باچـايي راکـړه، پـه فنـا بانـدې مئينـو

څـومره ډېـره مـايوسي ده، راخـوره ستاسـو پـه کـلي
څه په تورو شپو کې ناست يـی، پـه رڼـا بانـدې مئينـو

ګوره ناست دي ټـول پـه هيلـو، سـتا د قنـدو سلسـبيلو
سـتا ديـدار لـره شـا کـړې، پـه منشـا بانـدې مئينـو

خپـل دسـتور يـې بېګانـه کـړ، شـمائلې لـه وطنـه
د نيکونـو ديـن ګانـه کـړ، پـه دنيـا بانـدې مئينـو

پـــه نـــا اشـــنا خـــبرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم
لـــه مـــا نـــه لـــرې لـــرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

چې د مرګ زېـري دې راتلـل پـه زنکـدن کـې ومـه
چـــې دې د ژونـــد ســـندرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

چې په شته خدای کې دې ګوښه له شکایته کړمه
پـــه مـــا لمبـــې د سرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

دام يـــې دانـــه دی چـــا ويـــل ورتـــه ولاړه ومـــه
بيـــا چـــې تـــر بـــام کـــوترې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

قدم مې واخيست په لټون د خپل ورک شوي جنون
نـــن مـــې د خيـــال وزرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

ځان تـه اِرم مـې جـوړاوو لـه دې ژوندونـه خـو بـس
چـــې پـــه اِرم لښـــکرې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

زه ګرځېـــدلې ســـتا لـــه مخـــه شـــمائلې يمـــه
کـــه مـــې پـــه مـــخ منـــترې وګرځېـــدې وګرځېـــدم

شو جنون مې ډېر کم رنګه، له يـوې خـبرې وروسـته
اوس مې نه راځي تر ځنګه، له يوې خـبرې وروسـته

کړې راپرې يې د زړه ولې، پوه پرې نه يمه چې ولـې
شـومه ټيټـه ومـه دنګـه، لـه يـوې خـبرې وروسـته

وې چينجيو به خوړلی، څو چې ځان باندې خبرېږي
د پـردې دريـاب نهنګـه، لـه يـوې خـبرې وروسـته

دانـايې مـې زړه راتـور کـړ، کـه ريـا کړمـه محرومـه
د سـجدو لـه دې قلنګـه، لـه يـوې خـبرې وروسـته

هم اوبه دې د زم زم شوې، په رم رم په کنډولي کـې
هم ډوډۍ دې شوه بل منګه، له يوې خبرې وروسته

د سيلونو بناپيرۍ وم، د خپل عشق په سـلطنت کـې
د کوځـو شـومه ملنګـه، لـه يـوې خـبرې وروسـته

چـې نغمـې پـرې غرېـدلې، شـمائلې دادی اورم
اوس زګېروي له هغه چنګه، له يوې خـبرې وروسـته

○

ګونــګ مــې دی د حســن او د مينــې تصــور ولاړ
روح مــې وينــې وينــې لــه وجــوده دی بهــر ولاړ

کاش چې ستا په حال باندې مې کړې خندا هيڅ نه وای
سترګو تـه مې نـه وای ستا د اوښکو پس منظر ولاړ

ډېــرې ترانــې د استحســان بــه دې تــر غــوږو شي
دا حـــاتِم طـــايي دې چـــې زه وينمـــه پـــه ور ولاړ

هلتــه بــه د ځــان د بــې نيــازۍ خوبونــه نــه وينــې
چېرتـه دې چـې ژونـد وي د مرګـي غونـډې پـه سر ولاړ

وار مې چې خطا دی رنګ مې زېړ شونډې مې وچې دي
دا مـــې دی د زړه پـــه څوکـــه لمـــر د مـــازيګر ولاړ

څنګـه بـه مـې غـاښ د منګـولي ښـامار مـات کـړی و
مختـــه مـــې د خپلـــو تاتاريـــانو ۀ لښـــکر ولاړ

خپـل د مظلوميـت داسـتان بـه چـا تـه شـمائلې وړم
هـــرې خـــوا چـــې وينمـــه بـــې زوره ـــــ زورور ولاړ

○

کاش چې نه وای زه صنم په دې پړاؤ کـې
د دنيـا د درد و غـم پـه دې ـــــ پـړاؤ کـې

ډېـر مــې وکتــل پــر لــور ـــــ د همقــدمو
څوک مې نشته همقـدم پـه دې پـړاؤ کـې

د طـــايي او د عـــثمان ـــــــ ســـخاوتونه
دي ولاړ راتــه سر خــم پــه دې پــړاؤ کــې

هابل څه چې ـــ قابـل هـم انکـاري شـوی
تــر رشــتې د خپــل آدم پــه دې پــړاؤ کــې

د حيات، نه د کوثر ـــــ په جـام بـدل کـړ
عشـق زمـا د سـترګو نـم پـه دې پـړاؤ کـې

د زړه غوښې مې کباب کړې حاصل دا چې
سلسـبيل ورپسـې څښـم پـه دې پـړاؤ کـې

هـــر منظـــر د غـــم منظـــر دی شـــمائلې
رانـه ژونـد دی تـری تـم پـه دې پـړاؤ کـې

○

لار د مينــــې لامکـــان تـــه جـــوړوم
يـــوه بلـــه دنيـــا ځـــان تـــه جـــوړوم

تاته نه ښکارې دا ږدم چې په ځان پښې
دا پوړونــه چــې اســمان تــه جــوړوم

ســتا د هســک او د خــلا لــه ســيارو
صــدفونه خپــل ګريــوان تــه جــوړوم

کــه بــارې شې پــرې هــوس د ادمــزاد
ځــو خالونــه کهکشــان تــه جــوړوم

دا راڅاڅې چې مې اوښـکې پـه سِفال
چراغونـــه ريګيســـتان تـــه جـــوړوم

ستا د خيال مې يعنې نشته هيڅ حاصـل
دا جهـــان صرف ارمـــان تـــه جـــوړوم

زمزمــې دې ـــــــ شــمائلې د مســتۍ
چــې وِردونــه تــرې يــزدان تــه جــوړوم

لـه سـومناته ـــــــ د زوال کـوي پوښـتنه
څوک چې زما د زړه د حـال کـوي پوښـتنه

دا تجاهـل عارفانـه خـو ـــــ زمـا نـه زده
دا خلک څـومره پـه کـمال کـوي پوښـتنه

خلک له ما د خپل نصـيب پـه اړه پوښـتي
که امردين نه ـــــ د يغبـال کـوي پوښـتنه

قاصد تـه غـوږ يـم لـه اشـنا سره ولاړ دی
له جامِ جم نـه ـــ د سِفال کـوي پوښـتنه

دا ځينې هيڅ بې هيڅه مالګې دوړول کـا
پوښتنه نکړي ـــــ خو مثال کـوي پوښـتنه

چې پټ په غوږ د اوربدو هم جوګـه نـدی
د هغه راز مې په چوپال ـــ کوي پوښـتنه

ويرانو څلـو تـه ـــــــ يـې بيـايم شـمائلې
ستا د جلال او د جمال ـــــ کوي پوښتنه

○

تـا افسـوس رابانـدې کـړی او مـا نـاز دی
بـس پـه مـا او تـا کـې دغـه امتيـاز دی

نـه دې مـا پـه کائنـاتو کـې عشـق ومونـد
نـه سـعدي پکـې ليـدلی خپـل شـېراز دی

پـــه مقـــام د لېونتـــوب کـــه سره وايـــو
تـــا ګـــڼلی د زړه داغ دی مـــا اعـــزاز دی

چـــا لـــيکلی دی داســـتان د مظلومـــانو
چـا و چـا سره يـې غـم د سـوز و سـاز دی

پــه کــوم مــخ د تحمــل لارې راښــايې
هـر وزر مـې دې غـوڅ کـړی د پـرواز دی

خـبردار د خپـل مـرض پـه عـلاج نـه يـې
کـــه دې چـــا لـــره ويـــلی د زړه راز دی

اوس مـې دواړه سـترګې ګـل دې شـمائلې
اوس مې ژوند يعني په دې ډول ښېراز دی

اوروې راباندې غم ـــــ چپې چپې
ستا د هجر طلاطم ـــــ چپې چپې

تبسم دې شو شبنم زما په بڼ کې
بيا تړې جوړ شو شبِ نم چپې چپې

ستا په عشق کې د طوفان مخ ته وړی شوم
اوس دې لګي دمادم ـــــ چپې چپې

تماشې د مفلسی ته مې ولاړې
توري سترګې د صنم چپې چپې

وېروي مې په تورتم کې ناست وګړي
چې راخېژي به تورتم چپې چپې

شوې راګډې د بې حسه عالم لارې
چې مې سيند شو د آلم چپې چپې

زوړ څراغ مې د شيراز شولو بې قدره
ورته اوښکې تويوم چپې چپې

په زړګي مې راختلې ـــ شمائلې
د حسرت د وينو يم چپې چپې

○

ستا د کور قبله کې مخ د غماز وينم
چې نه ژوند کوم نهْ خوند د نماز وينم

حقيقت کړې سل پردې راځينې پورته
مګر دا هم په نظر د ـــ مجاز وينم

لږ او ډېره يې چې سام کړم له بدی نه
لږ او ډېر پکې خاطر او لحاظ وينم

په ائين کې ستا د عشق دا څو ماښامه
له خپل ځانه بوړنېدونکی پرواز وينم

چې پرون به مې ليده په بتخانه کې
نن يې مخ په دروازه د رياض وينم

راپسې توره په تېکې ـــ راروان وي
هر چې ځان پسې د رحم آواز وينم

دا به څوک لهوالحديث کړي شمائلې
کوم عالم چې زه په سوز او په ساز وينم

○

ما نه امید د نورو کومو وصلتونو لري، له ما نه لرې لرې!
ته په زړګي راته نور څه بې له داغونو لرې، له ما نه لرې لرې

روحه مجروحه ډېر بې وسه دې لېمه وینمه، منزل دې نه وینمه
نه دې قسمت شته نه وزر د پروازونو لرې، له ما نه لرې لرې

زه په جونګړه کې څراغ او ډېوه هم نلرم، زه تاته کله رسم
ته په ماڼیو کې رڼا د پانوسونو لرې، له ما نه لرې لرې

خدای خبر کوم جهان ته تللی د جنون یې رانه، حالِ زبون یې رانه
سر کې خیالونه چې د کومو پړاوونو لرې، له ما نه لرې لرې

عشقه نامراده ما وې شور به وي مستي به دې وي، بالادستي به دې وي
ته خو داستان د نا اشنا روایتونو لرې، له ما نه لرې لرې

ته نه جوګي يې نه فالي نه تعویذګر یې خانه، نه درویزګر یې خانه
نه په منګولو کې رسۍ د نصیبونو لرې، له ما نه لرې لرې

زه چې له خپله ژونده سترې شمائلې یمه، ډېره ناهیلې یمه
ته رانه اوسې په بې شمېره وطنونو لرې، له ما نه لرې لرې

بـل راوړي نـه خپلېـږي ــــــ دا متـل دی
په دې سوچ کې مې سر ایښی په څنګل دی

بیا مه وایه چې خدای څنګه په یـو حـال وي
تـر پرونــه چــې دې نــن مــزاج بــدل دی

بـل او بـل پســې خــلاف مــه راتــه وایــه
چې د ښې ورځې دې خپل دی بل او بل دی

د هماغـــې غټـــې ولـــې ــــــ اوبومـــه
چـې د کـومې پـه خنـدا کـې مـې اجـل دی

څوک شپونکی د ښاپېریو پـه ـــ طلـب کـې
را ګــډ شــوی د لېوانــو پــه ـــ ځنګــل دی

دانایـان دي د ښـامار د کـور پـه وره ناسـت
ســاده رو ترېنــه روان لعــل پــه بغــل دی

هــر قــدم دی ــــــ څلــور لاری شــمائلې
چــې پــه کومــه لار مــې لــوری د منــزل دی

○

چې راتول مې کړ د خپلې خندا عکس
ترينــه جــوړ شــو د وطــن د ژړا عکــس

دا به ګـوتې د ملنګ سري سـقطي وي
جــوړوي چـــې د بهلــول بېنــوا عکــس

د موسـا د جېلخـانې حـرفِ ځـواب شي
چې دې وينم د سپوږمۍ په رڼـا عکس

پــه پــردو ســترګو هــم نشــم ور کــتلی
وخـت دی دومـره ځـورولی زمـا عکـس

دا هـنر دی کـه رجحـان د جهالـت دی
چې په دام مـې جـوړوې د مَينـا عکـس

تازه ګـي يـې د صـورت راځينـې غـواړي
اوس چې کوم ائين ته ږدم د وفا عکس

چا مـې ايښـی پـه زړه داغ دی شـمائلې
که ګنې يې څوک د ګل او بـورا عکـس

○

په خپل ګردن مې د رسۍ تصوير ته ډېر وژړل
نن مې د خپلې بېوسۍ تصوير ته ډېر وژړل

د غريبۍ غنم مې وچ شول د قحطۍ له لاسه
ما د اسمان د ناراستۍ تصوير ته ډېر وژړل

يو څوک ادم لره د لاس په غځېدو شو مجبور
يو چا د خپلې خود دارۍ تصوير ته ډېر وژړل

لکه شتمن خپلې ماڼۍ ته ولاړ نه ښکارېدې
لکه شپونکی دې د کېږدۍ تصوير ته ډېر وژړل

په ما دې ناز وکړ زما له تخلق نه وروسته
تا چې د خپلې بې نيازۍ تصوير ته ډېر وژړل

چې سپين استازی مې په سر کې د زړښت شو پيدا
په هغه شپه مې د ځوانۍ تصوير ته ډېر وژړل

هم مې وطن د شمائلې ـــــ په زړه وورېده
هم مې د خپلې پردېسۍ تصوير ته ډېر وژړل

يو مې کور دی بې له تا پکې اوسېږم
جام په لاس چې د صهبا پکې اوسېږم

چار چاپېره رانه ټول دنيا پرست دي
يوه زه ترکِ دنيا ـــــ پکې اوسېږم

غم د عشق کړمه د درست جهان مالکه
له هر غمه بې پروا پکې اوسېږم

دا هيواد دی مقدم له هر هيواده
چې د شمعې په رڼا پکې اوسېږم

خاکسارانو مې له ژونده زړه راتور کړ
په ارمان د کبريا پکې اوسېږم

بخت مې کړه د جنيد کلي ته راوړه
له بغداده وارخطا پکې اوسېږم

تور نرګس مې دي کرلي شمائلې
چې په دوه سترګو شهلا پکې اوسېږم

○

لکـه بـت هسـې بـې سـاه يـم، زه لـه ډېـرې زمـانې
لــه خپــل ځانــه ناوېســا يــم زه لــه ډېــرې زمــانې

د تقـوا سـيورى مـې هـر وخـت د ريـا غځـوي لاس
پــه خنــدا کــې پــه ژړا يــم، زه لــه ډېــرې زمــانې

په تلبيس کې د ابليس مې خداى خوراک نکړې داني
لکـــه وم فنـــا فى الله يـــم زه لـــه ډېـــرې زمـــانې

امتــزاج د طبيعــت مــې، پوهــوي پــه خپــل مــزاج
پـه شـته خلکـو کـې تنهـا يـم، زه لـه ډېـرې زمـانې

در ګــډېرم ځکــه نــه چــې، تــه بــدلېږې ډېــره زر
زمــانې چــې وارخطــا يــم، زه لــه ډېــرې زمــانې

ســتا وصــال پســې راماتــه لکــه ځانګــه د ارواح
پــه بارګــاه پــه خانقــاه يــم، زه لــه ډېــرې زمــانې

نــه څــه وينــم نــه څــه اورم ، شــمائلې د دنيــا
مګـر سـتا پـه حـال ګـواه يـم، زه لـه ډېـرې زمـانې

○

چـې هـوا د نوبهـار ولګـي ـــــ ومـې لګـي زړه
يا مې سترګې پـه نګـار ولګـي، ومـې لګـي زړه

مجالسو د کـور مغـزو ـــــ رابـد کـړی و تـر پـام
اوس چې غـبږ د سـندرمار ولګـي ومـې لګـي زړه

چې عادت په خونرېزۍ وي يا د قتل وي عادي
هغه لاس چې پـه سـيتار ولګـي ومـې لګـي زړه

اوس يې بلـه بانـه نشـته د وصـال بغـير لـه دې
اوس چې نوم پرې د بيمار ولګي ومې لګـي زړه

چې طعام په بې حسۍ خوري د نهارو په ګاونـډ
هغه کـور کـې چـې ناتـار ولګـي ومـې لګـي زړه

مړ ارمان مې راژوندی شي د خپـل زړه د لګيـدو
زړه چـې يـار سره د يـار ولګـي ومـې لګـي زړه

دې کوڅې نه خلک لارې ـــــ شـمائلې بـدلوي
خو پـه مـا چـې يـې غبـار ولګـي ومـې لګـي زړه

○

طوفـاني شـپې تـه مـې ډيـوه د اميـد بلـه کړلـه
تـا چـې لـه مـا نـه د ژونـدون لاره بدلـه کړلـه

ستا د هجوم د جهـان دغـه يـو احسـان ؤ پـه مـا
چـې د جنـون او تنهـايۍ دنيـا مـې خپلـه کړلـه

پوه شوم چې څه وي د وريښمو په بالښت خوبونه
چې سر ته ماته پـه بېديا کې مې څنګلـه کړلـه

هغـه ماښـام نـه پـس مويـو بـل بيـا ليـدلي نـدي
په کوم ماښـام چې تـا يـوه کـړه او مـا بلـه کړلـه

خـدايزده د کومـو جزيـرو پـه لـور يـې واخيسـتله
وخت مې د بخـت کښـتۍ راتـاوو لـه منزلـه کړلـه

ما د راستۍ مينـه پـه يـو تهمـت لـه لاسـه ورکـړه
تـا د تګـۍ نـاوې راپـورې ـــــــ لـه دلدلـه کړلـه

بيـا مـې وطـن کـې شـمائلې زړه ونـه لګېـده
چـې مهـاجره دې لـه بـاغ زمـا بلبلـه کړلـه

◯

اوس مې تصور تصور ندی پاتې، نه دی
دا مازيګر ها مازيګر ندی پاتې نه دی

اوس بې مينې شوي خلک نه ورځې يو بل ته
اوس هغه د مينې اختر ندی پاتې نه دی

تورو دی غوخ کړی يا د پلک ګوزار وهلی
لاس د ترحم مې په سر ندی پاتې نه دی

بت به څه ته وايم دا محال د زړه له سوخته
کور کې مې ګلدان د آذر ندی پاتې نه دی

زړه مې که هر څو کړلو حباب ستا په فراق کې
نقش يې په ساحل سمندر ندی پاتې نه دی

لار چې پکې واخلم ستا د مينې په محاذ کې
لاس کې د نصيب مې جوهر ندی پاتې نه دی

تاو چې شمائلې شم ـــــ د نور له مظهرونو
دومره د پرواز مې وزر ندی پاتې ـــــ نه دی

○

ستا غونډې د عيش مستي په سر کې قربان نلرم
زه د سر پناه لپاره کور او مکان نلرم

کړم يې تماشې ته د خپل وېش د زيات و کم پيدا
کار يې په جهان او په بې ستنو اسمان نلرم

ګل دې چې د مخ په داغ تصوير کړمه ترسيم کړمه
اوس هغه د خيال او تصور دبستان نلرم

لار د استحتسان چې چا نيولې نو ورک شوي دي
شکر چې په هيچا باندې ځای د احسان نلرم

کړم يې چې تر بام لاندې په هر محاذ د تلو دعوه
توان هغې کوټه کې د شبنم د باران نلرم

دلته چې داستان لري نو هيڅ نلري هيڅ نه وي
پام د دغه ډار دی پکې زه چې داستان نلرم

حيف دی شمائلې چې خپل عيب هم پټوای نشم
حيف دی چې د چا غونډې لهجه د بيان نلرم

◎

رانــه چــاپېر دي ســتا د هجــر د بــلا لاســونه
زمــا د ژونــد مســيحا راشــه راکــه را لاســونه

ويښته مې سپين کړل د وختونو د تورتم په غېږ کې
پـه دې اميـد بانـدې چـې رابـه کـړي رڼـا لاسونه

زمــا د رزق پــه خــبرو کــې جــوهر لټــوي
ګــدايي ګــر دي د دنيــا او مافيهــا لاســونه

دومره يې مه فاني کوه چې بې ارزښته يـې کـړې
پـه خلکـو مـه اخلـه لـه دې فـاني دنيـا لاسونه

د هغــو خلکــو د غربــت پــه اړه ســوچ وړی يــې
حــاتم طــايي چــې تــرې ځنــډلي د سَخا لاسونه

ټولــو راخيســتي و قــران ـــــــ د تســلی لپــاره
معلــوم مــې نکــړل ګناهګــار او بــې ګنـاه لاسونه

بې پروا هغه وي شمائلې چې پرسان يـې نـه وي
کــانې راولي کــه ګلونــه ـــــــ بــې پــروا لاســونه

◎

اوس ستا انگړ ته گوري، اوس نه راگوري ماته
د عشق د اسمان ستوري، اوس نه راگوري ماته

کړشپه خوله چې ناست و، زما و گرفتن ته
اوس دور او مرجان پلوري، اوس نه راگوري ماته

په نيست د نام و ننگ يې، لږ زور دی پيدا کړی
د خوار وطن کمزوري، اوس نه راگوري ماته

د سپين لباس ښځتنو ــــ کنار کړم له پوښتنو
مختوري دي مختوري ــــ اوس نه راگوري ماته

تنې دې د عاديانو ــــــــ خځلې شوې د پانو
له آه سره مې ښوري ــــ اوس نه راگوري ماته

په سترگو کې يې غلا وه، پخپله په ځان پوه شو
راځي چې مې پر لوري، اوس نه راگوري ماته

د خط او کتابت دې ــــــ خوند تللی شمائلې
د مينې پکې توري ــــــ اوس نه راگوري ماته

ســتا د مينــې زولنــې دي شرنګاشرنــګ راتــه غږېــږي
وينــې وينــې زولنــې دي، شرنګاشرنــګ راتــه غږېــږي

د معــراج منظــر يــې راکــړ، پــه رواج د غلامــۍ کــې
څــه شــېرينې زولنــې دي، شرنګاشرنــګ راتــه غږيــږي

ستا په لاس کِلۍ د ګنج دي د سرو سپينو، زما لاس کې
سرې او سـپينې زولنې دي، شرنګاشرنـګ راتـه غږېـږي

محــاصره مــې مړوندونــه، کــړل د ســير و ســلوک لارو
اهنګينـــې زولنـــې دي، شرنګاشرنـــګ راتـــه غږېـــږي

ســتا د هجـر د غفلـت او ـ مايوسـۍ پـه تـور زنـدان کـې
ځينــې ځينــې زولنــې دي، شرنګاشرنــګ راتــه غږېــږي

سپوږمۍ تـا سره مـې نـه زده، قيـل و قـال زمـا پـه غـاړه
مهجبينـــې زولنـــې دي، شرنګاشرنـــګ راتـــه غږېـــږي

د ادم بچـــي چـــې ګـــورم، هســـې وايـــم شـــمائلې
بـس خـاورينې زولنـې دي، شرنګاشرنـګ راتـه غږېـږي

○

څـه يـې پيغـام دی راتـه ودې وايـي
سرِ ماښـــام دی راتـــه ودې وايـــي

دا ولـــې وژني يـــو تـــر بلـــه سره
زمـا خـو قـام دی راتـه ودې وايـي

جګ مـې لېمـو تـه ولـې نشي- کتـی
د چـا غـلام دی راتـه ودې وايـي

د چا د غم داستان که نه اوري څوک
ماتــه ناکــام دی راتــه ودې وايــي

چې مې د زړه په کور کې نـه اوسېده
پـه کـوم مقـام دی راتـه ودې وايـي

عشق يې په زر دی که د سر په بدل
کـه پـه لـيلام دی راتـه ودې وايـي

مـا نـه پـه ورکـو لارو ولـې ګرځـي
ورک مــې ارام دی راتـه ودې وايـي

مـا يـې تـوهين د محبـت کـړی دی
څـه مې انجـام دی راتـه ودې وايـي

پــه خــوار وطــن د شــمائلې اوسي
کـه پـه بـاګرام دی راتـه ودې وايـي

○

پرېږده، پرېږده چې له خپلو او پردو نه دې تنها کړي
ځينې ځينې اشنايانې به دې ځان سره اشنا کړي

ته د سر له چونګه درده، زه د زړه له درده ژاړم
درواغجن مسيحا ګوره، تاته ها کړي ما ته نا کړي

زړه غمی د سليمان مې ستا د عشق په لاره ومونډ
له حيرته ورته خاندم ، چې د غم په ما سودا کړي

سپی د کهف د وګړيو، په وفا کې جنتي شو
خو انسان په دې مجرم دی، چې انسان سره وفا کړي

د خپل عقل له ظهوره کله کله په دې سام کړم
هسې نه دين مې دانه کړي په دنيا به مې شيدا کړي

که د خدای په نوم دې جوړ کړ، کلی کور د جاهلانو
جهالت به يې روښانه، درته لارې د هدی کړي

په طلب ستا د وصال يې زړه بندي کړم شمائلې
عشق امير دی بې انصافه، په هر ګام خپله رضا کړي

هــر قــدم مــې کمــوي د زړګــي زور
څـو بـه پـالم دا د نـه زړه کـلی کـور

وو وژلی د يـــــوې ډيــــوې پېغـــــور
دا ډيوې چې يې بلېږي نن پـه ګـور

شاه سلطان دې د بهلول وکړي ديـدار
چې د آس يې پـه مـا نـه لګېږي شـور

په کوم ځای چې نا اشنا شي اشنا ژوند
هلتــه ســوچ د اوســېدلو مکــړه نــور

عاقبـت بــه تــور پــه تــا تــړي عاقـل
چـې ورښـايې ټِکـانې د سـپين او تـور

تقـوادار چـې تجربـه کـړه د ګـنج غـلا
بيا ترې مـه وينـه بـل پورتـه حرامخـور

شـــمائلې زړه هـــلال دی رانـــه ورک
په ناخوال ورپسـې ګـرځم لـور پـه لـور

د عشق مينا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه
خپلې خندا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

ما خو وې نه به مرمه تل به يم، لعل په بغل به يمه
فاني دنيا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

په يو پرواز تر عرشه تلل و راته، کارِ سهل و راته
دغې سودا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

چېرته زه، چېرته نرګسيت د مينې، دا مې ګمان هم نه و
ګلِ شهلا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

په اما بعد به مې قصه ختمېده، څو زمانه ختمېده
حِرص و انا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

چې سراسر دی په احتياج لړلی، ومه واقفه له دې
د ژوند منشا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

تر دې به ډېر زړه ناويسا ؤ زما، په شمائلې پسې
دې ناويسا ته به مې ولې ژړل، که داسې نه ومه زه

بې مينې ژوند، بې مينې رنګ د خپلې مينې وينم
که په چشمه کې د حيات د خضر وينې وينم

ساړه چلند د سياست دې سود په زيان واړوو
وې چې واورينې دې پنبې اوس يې خاورينې وينم

څوک دي بې څوکه د چا څمې دي لمبو وهلي
زه چې په دې وطن کومې لونګينې وينم

عشقه په لاس کې دې همسا د موسی نه وينمه
او نه دې لارې د پخوا غوندې رنګينې وينم

د تورو سترګو محبت يې په غفلت واؤښتهْ
چې سپينېدې به را پسې نو اوس يې سپينې وينم

غم ته د ژوند د پېغورونو په خندا شم سپوږمۍ
چې ښکلې مخ دې په لوګو کې ماه جبينې وينم

دا په کاله چې مې د زړه دی شمائلې ولاړ
ددې لاله د ګلو څانګې آتشينې وينم

○

زه مئينـه پـه داسـتان يـم د خپـل زړه د درد و غـم
چې خوښېږي مې نرګس غوندې لېمه د درد و غـم

چــې راتلــل پــه کومــو لارو، پيغامونــه د وصــال
اوس پـه هغـو لارو کېـږي، تلـه راتلـه د درد و غـم

په قضا ماښـام بـه راوړې، رنـګ د مينـې د معـراج
مګـر زه بـه يـم ولاړه ـــــ پـه لمانځـه د درد و غـم

چې صله د درد و غم به، کړم حاصـله پـه ژونـدون
دې اميد راسره سپين کړل، تور ويښته د درد و غم

چې دستور يې د مردانـو، پـه دسـتور وي د مـردئ
نجونې سرې منګولې ګرځي، په کالـه د درد و غـم

کــه ښــيراز بــاغِ ارم و، د شــيراز شــو بيابــان
زړه مې داغ کړ په سينه کې، يـو لالـه د درد و غـم

خــالي لاس يــم شــمائلې، زمــانې تــه د لبــاس
که څنګل مې د خوب ايښې، په شپاله د درد و غم

○

په يو داسې ځای کې اوسم چې مکان دی لامکان هم
استانه ده د خناس هم، ورک لاهوت دی د يزدان هم

په يو داسې اور کې سوزم، چې قسمت هم دی پېغور هم
د يو داسې چا له لاسه، چې حاسد هم دی جانان هم

په يو داسې رنځ اخته يم، چې نه مرمه نه رغېږم
دعاګانې رانه سام کړي ـــــــ دوايانې د لقمان هم

د سر کشه ازل وېشه، چې پر لار د واعظ نه ځم
د رضوان په وره کې وينم، پټ يو ښارِ ناپرسان هم

د ازغو شپولونه تاو کړه، د خپل حسن له نرګسو
سر و مال وي د بې کسو، چې لګېږي پرې تالان هم

په امېل مې غلط نشې، څو احساس د خوښۍ راکړې
يو ګلاب مې دی په غوږ کې، د لاله د خاندان ــ هم

چې مئين د ځان په خوان شي شمائلې کور يې وران شي
خيال پلو کې سليمان شي، سل پيدا کړي سفيران هم

ژونـد دی لـه غفلـت نـه ډک اروا مـې نـا ارامـه ده
زړه مـــې هـــديره بويـــه خنـــدا مـــې لـــه ناکامـــه ده

روح مـې کـوي زور لـه تنهـايي نـه د هجـوم پـه لـور
هېر يې دي چې هلتـه خـو يـې هـم دنيـا ليلامـه ده

تود شي چې سـڕی نـو د تـاوده دمـاغ مجلـس کـوي
ناســـته د پيتـــاوي کلـــه پاکـــه لـــه دشـــنامه ده

حيف دی چې د زړونو ناروغان يې هم معمـول ګڼـي
ساه مې چې ختلـې پـه کـوم غـم لـه هـر اندامـه ده

زوی د شيخ چلي در باندې وران کړ خپل جنت وطن
دريغـه چـې درغلـې څـه حيـا لـه دې مقامـه ده

رزق يې ګڼي که يې ښايسـت کـه يـې هسـتي ګڼـي
دا د ژونـد دانـه مـې پورتـه کـړې تـل لـه دامـه ده

شـــپه ده شـــمائلې کجـــاوې دي پـــه اوښـــانو بـــار
دا کلـه خـالي، لـه غـلا غـدوې او لـه الزامـه ده

زه يم يو تصوير د شکم داسې چې بل نه وينم
هر وخت رانه تاؤ وي آلم داسې چې بل نه وينم

ناز مې تکبر ګڼي لحاظ مې هم ضرور د حال
ما ته خدای راکړی صنم داسې چې بل نه وينم

زه چې تصور هم د خندا کولی نه شمه
اوسي مې په سترګو کې نم داسې چې بل نه وينم

وېش چې د تقدير د قلم وينم زيات و کم کله
زړه مې پرې شي داسې قلم داسې چې بل نه وينم

شور يې د دنيا د دريابونو خاموش کړی دی
شور دې دی د مينې د يم داسې چې بل نه وينم

کور کې د دوو ورونو د يو والي په طرز ګونګ ولاړ
کار يې په عرب او عجم داسې چې بل نه وينم

دی تر هر اندامه مې ختلی شمائلې دم
ستا دی د راتلو شومه دم داسې چې بل نه وينم

د ژوند جام مې نور له لاسه يعني لوېږي
که يې پوښتې نو قاصد په دې پوهېږي

ادمزاد به ادميت ـــــ راځينې هېر کړي
دغه وېره مې په ـــــ ځان کله لوربېږي

څه لذت خو به مې واخلي اذيت نه
ښه ده ښه ده چې له حاله مې خبرېږي

تجاران شول چې کنډرې يې وهلې
ؤ درواغ چې غل په غرهْ کې نه ځايېږي

ما پيدا کړ کان د زرو ـــــ ناصح وايي
چې په ورکو پسې ګرځي نو ورکېږي

ناشکري خاوري کوي د ژوند پشتونه
زما عمر ناشکرۍ سره ـــــ زياتېږي

يم په عالمِ ارواح کې ـــــ شمائلې
خپل تصوير مې په خاطر باندې ورېږي

○

شـمارمه سـتوري، لـه آلـه بغـير نـه راځـي څـوک
اوس مې په لوري، ستا له غمه بغير نه راځي څوک

زړه مې چاودلی دی لېمې مې وراړې خوينديې شولې
دې لاله زار ته اوس لـه نمـه بغـير نـه راځـي څـوک

دا مـې وتـلي دې څېـرې ـــــ د ادميـت لـه يـاده
دا راپسې چې لـه قدمـه بغـير ـــ نـه راځـي څـوک

غـم تـه چې ووهـم ټټـر ـــــ پـه مـات وزر د نـړۍ
بيـا لـه بهمـن او لـه روسـتمه بغـير نـه راځـي څـوک

د مور و پلار رشته بې حسه شوه د عشق په کار کې
اوس مې پرسان ته له صـنمه بغـير نـه راځـي څـوک

اوس په لحـد کې حـال احـوال د دنيـا نـه پوښـتمه
اوس چې راځي لـه جهنمـه بغـير نـه راځـي څـوک

چې د زړه مينـه شـمائلې ـــــ پـه نفـرت بـدلوي
پـه داسې لارو له آدمـه بغـير ـــــ نـه راځـي څـوک

◯

د هجـر پـه تـورتم، کـې د عشـق رڼـا غرېـړي
داسـتان د درد و غـم کـې مسـيح زمـا غرېـړي

چې زه بـه شـمه ځنګـه، رسـتم پـه هـر ډګـر کـې
پــه سر د هــر ادم کــې همــدا ســودا غرېــړي

چې شتون يې د بل نشت دی، نو څه به سره وايو
د ژونـد پـه تلاطـم کـې، چـې دا منشـأ غرېـړي

پــه کــور کــې مــې د لونــو، امېــد د ســبا وليــد
پــه اور د جهــنم کــې نــرۍ مســکا غرېــړي

يـو خـوا مـې نـم د سـترګو، قلـزم سـتا لـه فراقـه
بـل خـوا پـه يـو شـبنم کـې، ثـاني موسـا غرېـړي

زه هــم زمــرو خــوړلې، دانيــال عليــه الســلامه
مثال يم په عالم کې، خو څوک پـه مـا غرېـړي؟

تــرې بــد ورم بــې علتــه، تــر ډېــره شــمائلې
عـرب او پـه عجـم کـې، چـې راز د چـا غرېـړي

○

رانه بـه هېـر کـړي، رنګونـه ډېـر ډېـر
په سر مـې بـار دي، غمونـه ډېـر ډېـر

لاره د در دې، د يـــار پيـــدا کـــړه؟
کـه دې پيـدا کـړل، دردونـه ډېـر ډېـر

پـه نـه ليـدو مـې، زړه کـې دېـره دي
دا ناليـدلي ـــــــ مخونـه ډېـر، ډېـر

اوس خو دې شپه شوه، په هديره کې
اوس خو به وکـړې، خوبونـه ډېـر ډېـر

خيـال يـې پـه مـا دی، د چـا راغـلی؟
سر کې مې ګرځي، خيالونـه ډېـر ډېـر

عشـقه تغـر دې، زيـاتي در ټـول کـه
راتـه شروع شـول، وعظونـه ډېـر ډېـر

وخـــت اشـــنايان کـــړل، د شـــمائلې
غمونـه ډېـر ډېـر؛ فکرونـه ډېـر ډېـر

زه چې نـا اشـنا کـړم اشـنا سـترګو بيـا اشـنا نشـوم
شـومه د خنـدا خـو مګـر چـا تـه پـه خنـدا نشـوم

مـه راغـواړئ نـور طبيبـان نـور، خـبره ختمـه شـوه
روغـه پـه وصـال چـې د خپـل زړه د مسـيحا نشـوم

ستا د عشق همسا مې تر ګړنګ د شک پربېستې وه
پـورې بـې خطـره پـر قلـزم چـې د موسـا نشـوم

ترک د هغه اوس مې هر حسرت کړ په غفلت بـدل
تـا چـې راتـه بيـا وکـړل نـو بيـا هغسـې بيـا نشـوم

ډار د سر و مـال مـې چـې پيـدا کـړ پـه وګـړو کـې
نشـومه ښايسـت پـه خولـه کـې لعـل د اژدهـا نشـوم

وخـت ترينـه پـه زور د محبـت جـذبې اخيسـتې وې
ځکـه رابيـداره ـــــ پـه سـندرو ـــــ د مَينـا نشـوم

ور مـې کـړ راپـورې شـمائلې پـه خپـل ځـان پسـې
بيـا د چـا د زلفـو پـه اسره بـادِ سـباه ـــــ نشـوم

○

ګــوره زړه مــې خــور دی خــاطر جمعــه زه ولاړه يــم
مــاتې صراحــی تــه ـــــ لکــه شــمعه زه ولاړه يمــه

پوه شه چې پردی شوې هم دې غم تر واورې سوړ شولو
اوس دې چــې هــر غــم لــره بــې غمــه زه ولاړه يــم

ګــورم دې لمنــو تــه مغربــه د مشرــق لــه خــواه
ســتا د راختــونکي لمــر پــه تمــه زه ولاړه يــم

تــه راتــه نازکــه ولــې وايــې ـــــ فــولادي يمــه
ســتا خــو هــر ګــوزار لــره آدمــه ـــــ زه ولاړه يــم

مـا سره ژړا تـه خـو نـه يـار شـته نـه کـوم بـل غمخـوار
تــا سره ژړا تــه خــو رېښــمه ـــــ زه ولاړه يــم

نشــم معجــزه د مايوســی پــه دې ويرېږمــه
ځــان سره چــې پټــه لــه عالمــه زه ولاړه يــم

ښــکاري شــمائلې راتــه ځــان ـــــ تــر وطنــو فنــا
اوس چــې ورنــه لــرې څــو قدمــه زه ولاړه يــم

دي د ژوند اسباب مې ورک بې سر و پا يم
ځکه حال کې د ماضي ـ په تمه پايم

تـا چـې مانـه ماسـوا ـــــ ورتـل واړه
الغـرض چـې زه هماغـه ــــ ماسـوا يـم

د حاسـد پـه زړګـي بـل وي اور د سرې
زه چې خپلې پرېشـانۍ تـه پـه خنـدا يـم

يـو انسـان د بـل آئـين وي، دا دروغ دي
دې دروغـو خپـه کـړې پـه رېښـتيا يـم

پـه بينـا سـترګو مـې ــــ ونکـړه يـوه هـم
زه چـې کومـو تماشـو ــــ لـره پيـدا يـم

خدای د نشت پـه تصور کـې راتـه وويـل
چې لـه تـا نـه ناپديـد يمـه ــــ همـدا يـم

د عشـق دا کـرم ــــ کـافي دی شـمائلې
بـې پـروا چـې لـه ــــ دنيـا او مافيهـا يـم

○

هغــه ورځ چــې د ښائيســت بــه دې زوال وي
څــه خــو ووايــه اشــنا څــه بــه دې حــال وي

تــه بــه ماتــه د فرېــب ــــــ دامونــه ږدې خــو
د دې ټــولې زمــانې ــــــ بــه درتــه خيــال وي

راخـــتلى بـــه وي ـــــــ لمـــر پـــه چنـــارونو
راپرېـــوتى بـــه زمـــا د ژونـــد ــــــ هِـــلال وي

لانـــدې ګـــورې بـــه زمـــا د پښـــو خاپونـــه
پـــاس پـــه سر بـــه دې ولاړ د بـــوډۍ ټـــال وي

بـــې علتـــه بـــې ســـببه ـــــــ وي مايوســـه
تل پــه دې عــادت مــې ځــان سره جنجــال وي

زړه مـــې ښـــه دى ـــــــ نـــاقرار هغســـې نـــدى
خو بس ناست دې اوس له غمه بې مجال وي

د تقـــدير قِصـــه جـــلا خـــو ــــــــ شـــمائلې
چـــې اوبـــه د چـــا بلبـــږي ــــــ نـــو وبـــال وي

عشق دی یو رنګ، رنګ په رنګ اړوي رنګ
پــه باچــا رنــګ، پــه ملنــګ اړوي رنــګ

د زمـــانې د خلکـــو هـــیڅ مـــه وایـــه
راسره ناسـت ځنـګ پـه ځنـګ اړوي رنـګ

وایـې فـلانی خـیر کـه مـو وران دی وطـن
لـــه بهشـــتونو نـــه جنـــګ اړوي رنـــګ

ایمـــان مضـــبوط د واعظـــانو دې کـــړه
ستا په خلـوت کـې پـرې چنـګ اړوي رنګ

اوس بـه یـې خلـک پـه ویالـه کـې وینـې
اوس دې یونســـه نهنـــګ اړوي رنـــګ

ځـــم یـــو احســـاس د بـــې ننګـــې خپلـــوم
پـــه چـــا چـــې وکړمـــه ننـــګ اړوي رنـــګ

وختـــه مـــزاج ـــــــــ د شـــمائلې یعنـــې
پـه یـک رنګـۍ کـې شـو تنـګ اړوي رنـګ

اوس رانه هېرې دي چې څه وې عاطفې د ژوندون
دومره مې تېرې شوې له سره حادثې د ژوندون

هيڅ خدوخال د زنده ګۍ مې پکې ونه ليدل
ډېرې مې ونيولې ـــــ مخ ته آئينې د ژوندون

شکر له هاغه عقل و فکره خو مې ومينځه لاس
چې حقيقت به يې ګڼلې ـــــ افسانې د ژوندون

ما سره شوې په دوستۍ کې درغلي ده مدام
په ما راباندې دي دا خلاصې دروازې د ژوندون

اوس خو مې خپله له اِرمه په تالان کړ بدل
اوس به په کومو سترګو کړمه تماشې د ژوندون

دادی هغو نه بغير هم پايمه ژوند کومه
وې مې چې چا پورې تړلې سهارې د ژوندون

د کال څه ډېرې رنګينۍ وې شمائلې دا ځل
څه رنګ په رنګ راسره واوښتې څپرې د ژوندون

○

ورک د زړه څـراغ مـې، راورېـږي پـه خـاطر
سـتا د مينــې داغ مـې، راورېـږي پـه خـاطر

دسـت پـه دسـت نېـولې يـم لښـکر د تغافـل
مسـت د ژونـد ايـاغ مـې، راورېږي پـه خـاطر

سـتا بـې وفـايي بانـدې خـو پـوه کـړم زمـانې
غـم د خپـل دمـاغ مـې، راورېـږي پـه خـاطر

تاتـه بـه چـې مـا پـه تخيـل ــــ کـې جـوړوه
هغـه بـڼ و بـاغ مـې ــــ راورېږي پـه خـاطر

مـا بـه لېـونۍ کـړي ــــــ سـتا د شـهر تصـور
تل چـې لکـه راغ مـې ـــ راورېږي پـه خـاطر

چېـرې؟ چـې يـې وګـڼم ــــ د مينـې عنـدليب
سـتا د کـلي زاغ مـې ــــ راورېـږي پـه خـاطر

ځان چې پکې خلاص کړم شمائلې له خودۍ
داسـې يـو فـراغ مـې ـــ راورېـږي پـه خـاطر

هـيڅ مـې حاصـل نکړلـه وفـا لـه ښائيسـتونو نـه
لـرې لـرې ګـرځم، د دنيـا لـه ښائيسـتونو نـه

تللـې بـه جثـه هـم د چـا نـه وي بينـوا هسـې
زه چـې لکـه راغلـم، بېنـوا لـه ښائيسـتونو نـه

دا د خپـل تعلـق پـه حقيقـت پـورې خنـدا کـوم
اخلمه رخصت چې، پـه خنـدا لـه ښائيسـتونو نـه

بويـه چـې تحفـې د بـدرنګۍ بـه يـې راکـړې وي
غـواړم چـې امـان پـه خانقـا لـه ښائيسـتونو نـه

داسـې رويېـې مـې کـه روانـې وي لـه زړه سره
ښايي چې مې نا کړي هغه ها لـه ښائيسـتونو نـه

شک مې پيدا شوی په ښائيست باندې د چا ؤ او
لاړې رنګينـۍ ــــ د چـا ؤ چـا لـه ښائيسـتونو نـه

داغ مـې د ځيګـر دی ــــ شـمائلې لادوا ځکـه
اخلي مې خـبر ــــ بـادِ سبا لـه ښائيسـتونو نـه

◎

مـا سره غـم دی ــــ هغـه دا، چـې زه بـې غمـه ولـې يـم
غـم د صـنم دی ــــ هغـه دا، چـې بـې صـنمه ولـې يـم

دلتـه خـو نشـته هيڅـوک هـم، دا خـو د فکـر دی جهـان
پــه تمــه ناســته د يــو چــا، تــر شــومه دمــه ولــې يــم

يـم پـه خنـدا کـې پـه ژړا، جـوړ دی پـه ذهـن مـې مـاتم
په زړه مې پروت دی د چا غم، داسې بې دمه ولې يم

بايد چې نه مې وای داستان،هم مې وای ورک نام و نشان
پــاتې د عشــق پــه رېګيســتان، د زړه لــه يمــه ولــې يــم

چــې پټــې نشــوم د مــرهم ــــ د عنــدليب پــه مــات وزر
د نـاز پـه ګـل لکـه شـبنم ــــــ د سـترګو نمـه ولـې يـم

چې مـې مـرام يـې بـې بهـا، هـم مـې مقـام يـې نـن سـبا
سـتا لـه تصـويره پـه فـرار ــــــ نقـشِ قدمـه ولـې يـم

دا خــو مــې حــرف و د جنــون، هــم شــمائلې د ژونــدون
سر پـه رټلـو د خپـل ځـان ــــــ لـه دې شِـکمه ولـې يـم

بــې اسرې بېنــوا لاړم، بيــا بــه رانشــم هيڅکلــه
زه پــه لار د فنــا لاړم، بيــا بــه رانشــم هيڅکلــه

پـه سـبا سبا دې زړه کـړ، راتـه پـوخ خـو تـه را نغلـې
ګــوره زه کــه ســبا لاړم، بيــا بــه رانشــم هيڅکلــه

مـخ زمـا د نصـيب ګـوره، د لقـمان تـر کـلي کـوره
لادوا لادوا لاړم ـــــــــ بيــا بــه رانشــم هيڅکلــه

پـه ګـمان د چـا د مينـې، د دنيـا بـې مينـې غېـږ تـه
خطـا راغلـم رسـوا لاړم، بيـا بـه رانشـم هيڅکلـه

دا د غم داستان به يوسم، چېرتـه بـل حاجـت روا تـه
سـتا لـه دره کـه بيـا لاړم، بيـا بـه رانشـم هيڅکلـه

رنګ د حسن د جوهر مې د غربت په کور کې پرېښود
بـې بهـا بـې بهـا لاړم ـــــ بيـا بـه رانشـم هيڅکلـه

اوس مـې خلـک شـمائلې ـــ د ښـراغ پـه رڼـا ګـورې
زه د داغ پــه رڼــا لاړم ـــــ بيــا بــه رانشــم هيڅکلــه

◯

شــوم ګوښــه د هغــې مینــې لــه خــبرو
چــې بللــې مــې پــه مشــکو او عنــبرو

خدای زده ولې خو درواغ راته ښکاره شوه
چـــې پـــه لـــوړه ځـــې اوبـــه د زورورو

فکـر و فـن روح او بـدن مـې خلایـې دې
زړه مارغه مـې پکـې ناسـت دی بـې وزرو

کـه خـبر مـې تـر سـلګو د زنکـدن شـول
بیـا بـه وکـړې ـــــ تماشـې د بـې خـبرو

عشق عجب يو شاهانه غوندې ملنګ دی
مال متـاع منـې، نـه ګـنج د سپین او زرو

لکــه وې چــې ـــــــ جنــازه د چــا روانــه
هسـې غـږ وې ـــــ د بـې ننګـو د لښـکرو

هغه سـترګې مـې ړنـدې شـوې، شـمائلې
چـې عـالم بـه یـادولې ـــــــ پـه سـندرو

راته نه ښکاري خپل ژوند د سوکالۍ وړ
وزرماتی مارغه نه وي د سيالۍ وړ

څو که ګنج د جواهرو پکې پلورې
ستا د فکر ټال مې ندی د والۍ وړ

په خندا خندا رادرومي د غم زېري
اوس تندی مې شو د داسې خوشالۍ وړ

درته اور بشي- د مړه ژوندي پوښتنه
دا وطن ندی ـــــ ددې کليوالۍ وړ

ته چې لاړې زه دې راغلم تماشې ته
ؤ نصيب به مې ددې بې مهالۍ وړ

ای زما د عشق په هر قدم کې داره
ندي ستا په رسۍ هر څوک د ټالۍ وړ

چې مدام وي شمائلې بې ارزښته
وي د قام موزي مدام د دلالۍ وړ